هفته نامه

دجهاد هنداره

مــراة الجــهــاد

لومړی کال (٤٣)ګڼه چهارشنبه د ۱۳۷۰ هـ ش کال دسرطان ۱۲

PROPERTY OF ACKU

دخان آباد ولسوالي دنیولو لپاره دمزدور رژیم حملې ناکامې شوې

په ۷ مخ کې

په پکتیا کې ددښمن درې ټانکونه ویجاړ کړای شول

پکتیا ، دجهاد هنداری خبریال :
دپکتیا ولایت دالحاج حقانی دجبهاتو له قوماندانی څخه دمخابروی رپوټ په اساس ویل شوی چی زړورو مجاهدینو دقوماندان سلطان ترمشری لاندی ددرنو وسلو په ډزو دزرمت اوګردیز ترمنځ د«درنګ» په سیمه کی دمزدور رژیم دری عرادی ټانکونه له منځه وړی دی .
پدغه رپوټ کی ویل شوی چی ددی ټانکونو سورلی هم وژل شوی دی، رپوټ زیاتوی چی ددښمن پر مرکزونو دمجاهدینو بریدونه دوام لری .

دهند دپنجاب په ایالت کی ۲۹ کسه وژل شوی دی

نوی ډیلی، دامریکا غږ راډیو :
دهـنـد دپـنـجـاب پـه ایـالـت کـی دورستیو ناکراریو په لړ کی ۲۹ کسه وژل شوی دی .
دهند خبری اژانسونه وایی چی بیلتون غوښتونکو سکانو امرتسر ، جلندر اوهـریـانـی تـه پـه نـژدی کلیو کی دتیری جمعی دشپی څـخـه راپـدیـخـوا لږ تر لږه ۱۵ کسان په ګولیو ویشتلی او وژلی یې دی ، هـمـدارنګه وسلـه والو کسانو دامنیتی قواو ٤ غړی وژلی دی ، هـمـدارنـګـه دوه کـسـه دپاکسـتـان سرحد تـه نژدی وژل شوی اودوه کسه نور هـم دایالتی شورا دیوه کاندید محافظین دی چی دبیلتون غوښتونکو سکانو له خوا وژل شوی .

دروسیی یو لوړ رتبه هیات پاکستان ته راځی

اسلام اباد ، دسرطان ۷ مه :
دپاکستان دبهرنیو چارو وزارت یوی منبع منلی دی چی ټاکل شویده دروسیی یو لوړ رتبه هیات دروسیی ددولت فوق العاده سفیر اودهـغـه هیواد پـه خـارجه وزارت کـی دافـغـانسـتـان دچارو مسوول تـرمـشـری لانـدی دجـولای پـه میاشت کی پاکستان ته راشی .
دغه هیأت به دافغانستان دمسلی پـه هـکلـه دپاکـسـتـان ددولت لـه مـقـامـاتـو سـره خـبـری وکـړی .

جنرال عظیم زرمتی درحاد ثه انفجار مین درلوګر مجروح شد

کابل ، میدیا :
خبرنګار میدیا اطلاع داده است که جنرال عظیم زرمتی یکی از افسران بلند رتبه رژیم مزدور کابل وعضو ګروه خلق حزب کمونست کابل اخیراً به اثر انفجار تصادم تانك حاملش بامین درولایت لوګر مجروح شده است .
این حادثه هنګامی رخ داده که وی مصروف بازدید ازمراکز نظامی رژیم درتنګی واغجان بود .
ګفته میشود که وی درحال حاضر درشفاخانه چارصد بستر ارد وکه مربوط نظامیان است تحت معالجه قرار دارد .
خبرنګار افزوده است در محافل ګروه خلق شایع است که رژیم تصمیم دارد قوای مسلح راکه خلقی ها بیشتر دران نفوذ دارند ازوجود این ګروه که رقیب ګروه پرچم است پاکسازی نماید وعظیم زرمتی بدنبال همین تصمیم به ادامه جنګ بی میلی نشان میداد ګفته میشود که اعزام زرمتی به تنګی واغجان روی همین انګیزه صورت ګرفته زیرا رژیم که توانایی برطرفی اشکار ویراندارد تلاش مینماید تا ازطریق جنګ وسپاریدن وی به کام مرګ ، قوای مسلح رازوجود وی پاکسازی نماید.
خبرنګار به نقل ازشایعات مذکور می افزاید ، بسیاری ازصاحب منصبان ګروه خلق که رژیم میکوشد انانرا به جبهات جنګ به ولایت میدان ووردك بفرستد به بهانه های ګوناګون داخل بستر شفاخانه شده وخود رادر انجا نګهمیدارند .

دالجزایر جمهور رئیس دخپل حزب له ریاست څخه استعفا ورکړه

الجزایر، دسرطان ۷ مه :
پداسی حال کی چی دالجزیری ښارله سختو سیاسی ستونزو سره مخامخ دی دالجزایر جمهور رئیس شاذلی بن جدید دخپل حزب لـه ریاست څخـه استعفا ورکړه .
په رپوټ کی څرګنده شویده چی دی به یواځی دجمهور رئیس په توګه پاته شی .

دیوه غونډ عسکرو خپل ٦ تنه افسران وژلی

لوګر ، میډیا :
په پیښور کی دلوګر ولایت یوه خبر ځای میډیا ته خبر ورکړ چی دکابل ښار په جنوب ختیځه ۳۰ کیلو متری کی دچکری ولسوالی دچاروازګی دغونډ ٤٠ تنو عسکرو دخپل غونډ ٦ تنه کمونست منصبداران تیره هفته دشپی له خوا وژلی اودلوګرپه ولایت کی مجاهدینو ته تسلیم شوی ، او دمزدور رژیم ٥٥ میله وسله اویو مقدار مهمات یی له ځان سره راوړی دی .

مجاهدینو په فراه کې د رژیم درې پوستې ویجاړې کړې

دفراه له ولایت نه میډیا ته دیوه راډیویی پیغام په حواله رپوټ ورکړشوی چی مجاهدینو دجوزا پـه ۳۱ مـه نـیـټـه ددغـه ولایـت دشینډنډ پرهوایی ډګر اوشاوخوا پوستو ددرندو وسلو ډزی وکړی چی په نتیجه کی ددښمن دقواو دری پوستـی ویجاړی یوشمیر عسکر اوملیشه مړه او ۱۸ تنه نوریې ژوندی نیول شوی دی .
رپوټ زیاتوی چی مجاهدینو پدی برید کی دڕژیم له قواو نه دوه میله هـاوان ، دری میلـه پیکا ماشینداری ، یو میل «ز- یو ۲۱» میله دافع هـواتوپ ، ۲۵ میلـه کلاشینکوفونه اویوه اندازه مهمات ولجه کړیدی .

سرمقاله

تلاش دیگری برای تغییر مهره ها

دستګاه رژیم دست نشاندهٔ مسکو درکابل باردیګر مورد دست کاری ودست بازیهای محیلانه روسها قرار میګیرد واینبار روسها پلانهای شوم خود رابا عودت دادن چهره های خاین بوطن ومردم افغانستان میخواهند عملی نمایند روسها ان چهره های ناپاك وکثیف کمونستی راکه بعد از خیانت های شرم اور به هدایت روسها درخارج مخفی ساخته شده بودند درباره وارد دستګاه رژیم دست نشانده خود درکابل می نمایند.
روسها در سال ۱۳٦٥ برای عملی نمودن پارهٔ دیګر از اهداف شوم خود توسط نجیب ، ببرك راکه تاانوقت بحیث یك کمونست وانتر ناسیونالیست اصیل یعنی (وطنفروش اصیل) میدانستند باصحنه سازی ګویا کودتای درون حزبی بر کنار وبروسیه انتقال وتاچندی قبل درآنجا تحت نظارت روسها قرار داشت. روسها درهمین مدت نجیب رئیس رژیم کابل رابدین شکل فریب دادند که یګانه سیاست بازماهریست که هم میتواند مملکت اش رااز چنګال جنګ ۱۳ ساله نجات دهد وهم

درصفحه ۸

دکندهار دهوایی ډګر دامنیتی پوستو قوماندان د ٤٠ تنو ملیشه و سره مجاهدینو ته پناه راوړی ده

میډیا دکندهار ولایت څخه دراډیویی پیغام په حواله خبرورکړی چی دکابل رژیم دکندهار دهوایی ډګر دڅلورو امنیتی پوستو دڅارنی دملیشه و قوماندان جمعه خان دخپلو ٤٠ تنو ملیشه و او ټولو وسلو سره‌مجاهدینو اسلامی عفوی له مخی تیره هفته مجاهدینو ته دهوایی ډګر په جنوب دتورکوټل دمجاهدینو مرکز ته پناه وړی اودمسلمان وژنی او دکمونستی رژیم له حمایت څخه یی لاس اخیستی دی .
دملیشه قوماندان میډیا سره په راډیویی مرکه کی ویلی چی دده سره ملیشه دکندهار ښار اوهوایی ډګر ترمنځ دارغستان له پله نه تر غره کل پوری دسیمی څارنه کوله دکمونستی رژیم دخاد شبکی دظلمونو څخه یی کرکه اونفرت څرګند کړی اوپه کمونستی قواوکی یی دمسلمانانو په خلاف جنګ کی دکړی ګناه لپاره دخدای (ج) دربار څخه دمغفرت غوښتنه وکړه .
قوماندان جمعه خان په نورو ملیشه و باندی چی تراوسه دکمونستی ګوډاګی رژیم څخه دفاع کوی غږکړیدی چی ټول ملیشه یان اوعسکر باید دافغانستان دآزادی اویو اسلامي حکومت دقیام اوامن لپاره خپله همکاری دګوډاګی رژیم سره قطع کړی اودمجاهدینو سره دی یو ځای دوطن دازادی لپاره برخه واخلی .

دزعامت مینه

دمحترم مولوي محمد یونس خالص په قلم

۲ مخ کی

دیوګوسلاویا اوسلووینیا ترمنځ په نښته کې ۱۰۰ کسه مړه او ژوبل شوی دي

بلګراد ، دسرطان ۷ مه :
دیوګوسلاویا هیواد دمرکزی حکومت او ددی هیواد دبیلتون غوښتونکی جمهوریت سلووینیا ترمنځ دیو لړ سختو نښتو په ترڅ کی دسلوکسانو په شاوخوا کی کسان مړه یا ژوبل شوی دی .
دغه نښتی هغه وخت منځ ته راغلی چی دیوګوسلاویا مرکزی پوځ دسلووینیا دسرحدی پوستودنیولو لپاره کوشش وکړ.
دسلووینیا جمهوریت ددفاع وزیر دیوی راډیو تلویزیونی وینا په ترڅ کی ویلی دی چی ددواړو پوځونو ترمنځ سخته نښته پیل شوی. نوموړی همدارنګه دیوګوسلاویا دپوځ د٦ هلی کاپترو او ۱٥ ټانکونو دله منځه وړلو ادعا هم کړی ده .
دیو لړ نویو رپوټونو له مخی داروپایی هیوادونودګډو هڅو په نتیجه کی ددواړو خواو ترمنځ اوربند اعلان شوی ، که څه هم چی متقابل پوځونه په مورچو کی تیار ناست دی .دیاوونی وړده چی دغه نښتی هغه‌وخت رامنځ ته شوی چی دیو ګوسلاویا دووجمهوریتونوسلووینیا اوکروشیا دخپل استقلال غوښتنه پورته کړه ، دنوی ډزبندی له مخی دغه جمهوریتونو دخپلی استقلال غوښتنی اعلان ددری میاشتو لپاره ځنډولی دی .

په هرات کې دمجاهدینو عملیات دوام لری

هرات ، میډیا :
دهرات لـه ولایت نـه دیو خبرلـه مخی ویل شوی چی مـجاهـدینو دجوزا پـه ۳۰ مه نیټه دزنده جان ولسـوالـی پوری مـربـوط دلنګر خواجه په دښته کی دکابل رژیم پر قواو باندی برید وکړ چی په نتیجه کی ددښمن له قواوونه ۲۲ تنه عسکر او ملیشه هلاك او ۹ تنه نور ټپیان شوی دی .
هـمـدغه راز مـجـاهـدینو پـه دی ولـسـوالـی کـی درژیم دقواو یوه تعرضـی حمله دلوی اختر نه یوه ورځ مخکی په شـاتمبولی ، ٦٠ تنه عسکراوملیشه یی وژلی یو عراده ټانك او دوه موټر یی داور لمبه کړیدی .
پدی جګړه کی دوه تنه مجاهدین شهیدان او ٤ تنه ټپیان شویدی .

دبغلان په ولایت کی درژیم دری پوستی فتحه شوی

بغلان ، میډیا :
دبغلان دولایت نه درسیدلی خبر له مخی مجاهدینو دجوزا پـه ۲٤ مه دپلخمری ولسوالی دنرخاب دکیلـه ګی دسیمی پرپوستو عملیات ترسره کړل چی په نتیجه کی درژیم دری پوستـی فتحـه ۸ تنه ملیشه مړه ۱٥ تنه ټپیان او ۱۰ تـنـه نـور ژونـدی نـیـول شـوی دی.
خبر زیـاتوی مجاهدینو په دغه جګړه کی ۲۰ میله کلاشینکوفونه څلور میله ثقیلـه وسلـی ٥٠ صـنـدوق دډول ډول وسـلـو ګـولی ولجه کړی دي .

مجاهدینوپه هلمند کې درژیم دقواو ۳۰ تنه وژلی دی

میډیا دهلمند ولایت دیو قوماندان دراډیویی پیغام په حواله رپوټ ورکړی چی ددغه ولایت مجاهدینو ددرنـدوتـوپـونـو دډزو پـه واسـطـه دګرشك دستراتیژیکی ولسوالی په لواجاندی دجوزا په ۲۳مه نیټه حـملـه وکـړه چـی داوږدی جګړی وروسـتـه پـدغـه لـواکـی ۳۰ تـنـه عسـکـراوملیشه وژل شـوی اویوه عراده نظامـی لاری‌داور لمبه کړی شوی ده .
دڕپوټ مـطـابق پـدغـه نښتـه کـی دکمونست رژیم دمتقابله درندو ډزو په اثر ۳ کلیوال شهیدان او ٥ نـور تـپـیـان شـوی او هـم دمجاهدینو یو عراده موټر داور لمبه شویدی .

په خوست کې دروغتونونو ، مدرسواوښوونځیو دفعالیدو لپاره کارپیل شویدی اودزراعتي چارو په رابطه موږ په پروګرام جوړولو کارکوو (الحاج حقاني)

دجهاد هنداره

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدین حقاني

دتأسیس کال : ۱۳۶۹ هـ ش

«انصاف» چیرته ، اوڅرنګه؟

احمد ضیا « رحیمزی »

د۱۳۶۸ کال ددلوی دمیاشتی له « ۲۶ » می نیتی څخه وروسته کله چی د روس یرغلګر پوځونه زمونږ د باتورواومومنو هیوادوالو سره تر لس کلنی اوږدی اوخونړی جګړی وروسته د افغانستان له خاوری څخه په شاتګ ته مجبور شول نو دافغانستان دکشالی په اړه دیوشمیر نورومسایلوتر څنګ دجګړی په ترځ کی دمجاهدینوله خواد نیول شویوروسی اسیرانود خوشی کولو لپاره هم یو لړ دیپلوما تیکی هلی ځلی پیل شوی .ددی هلو ځلو په ترڅ کی ددغی مسئلی د هواری اود روسی جنګی اسیرانودخوشی کولو لپاره ځوځولی د روسیې حکومتی او غیر حکومتی هیا تونو پاکستان او کابل ته سفرونه کړی او دپاکستان او کابل رژیم له مقاماتو او زمونږ له جهادی مشرانو سره یی خبری اتری کړی دی چی ددی مذاکراتو لړی لا تراوسه هم روانه ده.

ددی خبرواترواودیپلوماتیکی هلو ځلو په څنګ کی دپاکستان ځینی سیاست پوهانو هم چی تل یی دروسی یر غلګرو اوپه کابل کی دهغوی له مزدور رژیم څخه ملاتړ کړی او مجاهدین یی د خپلو انتقاداتو تربرید لاندی نیولی وخت او نا وخته یی دغه مسله را پورته کړی ده ،اودروسی بندیانو د خوشی کیدو غوښتنه یی کړی ده چی تقریبا یوه اونی مخکی هم د پاکستان په ځینو ورځپاڼوکی پدی هکله یو خبر خپورشوی ؤ، ددغه خبر له مخی دپاکستان د ملی اسمبلی یو تن غړی چی کلونه کلونه یی په کابل کی پټ سیاسی ژوند تیر کړی پدی تړکی انتقاد کړیدی چی مجاهدین روسی اسیران د «تاکل شوی مودی » پرته او په «نا معلوموسیمو کی ښندیان کړیدی؛اوهغه یی دمجاهدینوښکاره"بی انصافی" بللی ده ځکه دده په نظر کله چی روسی لښکری له افغا نستان څخه وتلی ، نوباید دغه بندی عسکر هم خوشی شوای وای ،

مونږ نه پوهیږو چی داښاغلی سیاست پوه د«انصاف »او«بی انصافی »لپاره کوم معیارونه په نظر کی نیسی ؟ اود"انصافه" او"بی انصافه"کسانو دبیلولو لپاره کوم "ممیزات" او"توپیرونه" ورته محترم دی!

ایا دانصاف دغه ښاغلی مدعیان پدی نه پوهیږی چی دغه قیدی روسان چی نن یی دوی دخوشی کیدو غوښتنه کوی دهغه وحشی وسله وال پوځ یو جز دی کوم چی پوره لس کاله یی مستقیماً زمونږ دمظلوم ولس دیو نیم ملیون انسانانو وینی یوازی اویوازی پدی ګناه تویی کړی چی نه یی غوښتل دپردیو تراسارت لاندی ژوند وکړی اودپردیو له خوا مسلط شوی تحمیلی نظام ومنی !

ترلمر روښانه دغه حقیقت نن له چانه پټ دی چی زمونږ بی وزلی اومسلمان ولس چی دځوارلس کلنی تحمیلی جګړی په ترڅ کی دظلم ، دهشت اودربدری کومی ناخوالی لیدلی ، له کومو ستونزو اومشکلاتو سره چی مخامخ شوی دهغی یوازینی عامل په کابل کی دسره استعماری ځواك په مستقیمه همکاری دثور کرغیړنه کودتا اودځو اجیرو اوبی پته کمونستانو قدرت ته رسول اووروسته بیا زمونږ پرهیواد دوحشی سرو لښکرو مستقیم یرغل ؤ ، او بس !

په ۷ مخ کی

دزعامت مینه

دمحترم مولوي محمد یونس «خالص» په قلم

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم پدی معنی فرمایلی دي که دوه وږی شرمښان دګډو په رمه کی ورپریښودلی شی هومره به یی تباه اوبرباد نه کړی لکه چی دانسان مالی او دباداری حرص چی دده دین تباه کوی.په هغو ټولنو کی چی دین نشته اویاخوددین دشتوالی دعوه لری خودنیوی چارچلندیی له دین څخه جلاشوی اودالهی قوانینو پرځای وضعی قوانینو ته اطاعت لری یاپه بل عبارت لوی خدای؟ته دبندګی پرځای بنده ته په بندګی باندی یی ترجیح ورکړی ده اودټولنی اکثریت په حکومت باندی حاکمیت لری. کیدای شی دمال او جاه حریصان دمختلفو وسایلو له لاری زعامت ترلاسه کړی اوصرف دی دپاره چی لوی بډای تری جوړشی اودچوکی دلوړ تیا په حساب دوهم فرعون شی ، چی دهمدغه شانی ټولنو افرادسره دتل لپاره په مختلفو ګوندونو ویشلی شی اوددی پرځای چی په دوی کی پوه او رسیدلی خلك ټولنه انسانی ارزښتونو ته ولیږدوی اومعنوی وده ورکړی ، تاند وهی دټولنی دافرادو مادی تمایلات ورپوره کړی اوددی لاری څخه اکثریت تر لاسه کړی اوپه ټولنه کی خپلی حکمرانی ته دوام ورکړای شی ، دغه وجه ده چی ورځ په ورځ دنړی پرمخ دوحشت اوبربریت کرغیړنه څیره دنوی تمدن په جامه کی ځان ښکاروی کله یو تربله سره مهلکی اسلحی استعمالوی اوله دی لاری څخه زور ور انسان دشرمښ په څیر دکمزوری انسان ورمیږ ورماتوی او کله په ځینو جوامعو کی دبداخلاقی معیار هومره پورته ځی چی حتی نارینه و ته دنارینه وسره دنکاح قانون راباسی اوکه اکثریت دځناورو سره دجنسی غریزی په اجراکولو معتاد شی نو دځناورو سره دنکاح قانون به هم ورته تصویب کړی او معنا داچی دانسان څخه به ځناور هم جوړکړی .

خو اسلامی ټولنی ښایی داسلام په اساس زعامت ولری ، په اسلام پوه خبیر خلك ښایی د« ان اکرمکم عندالله اتقاکم » په حکم دټولنی دزعامت لپاره هغه خلك وټاکی چی پاك او سپیڅلی وی اودشتمنی او دبدبی سره دمینی او حرص ښامارانونه نه وی .اسلامی دین ورته دبشریت دنیکمرغی یواځنی لاره ښکاری ترڅو دټولنی لپاره مادی او معنوی داسی خدمت وکړی چی نه خو دبل چا نوکری اوغلامی ته اړشی اونه خو پخپلو منځو کی دلیوانو اوګډورمه ورځخه جوړه شی ، نه خو فقر اوبی چارګی ، کمښیالی اودسپکاوی وسایل وبلل شی اونه خو شتمنی اوقدرت مندی دفخر اوعزت معیارونه وپیژندلای شی داچی محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم په فقر کی ژوندتیرکړپخپله ددی درس راکوی چی فقر دذلت سبب نه دی او فقیر باید ذلیل ونه بلل شی ، کوم وخت چی منافقانو مهاجرمسلمانان دفقر اونادارۍ په اساس ذلیل وبلل .

اوویی ویل « لئن رجعنا الی المدینة لیخبرمن الاعزمنا الا ذل » (سوره منافقون) یعنی که مدینی ته بیرته راوګرځیدو نو عزتمن خلك (شتمن منافقین) به بی عزته خلك (بی شتو مسلمانان) له مدینی څخه وشړی ، نولوی خدای داسی ځواب ورنه کړ چی منافقان داکارنه شی کولای بلکه ویی فرمایل « والله العزة والرسوله وللمومنین » یعنی عزت والا خو خدای ، دخدای رسول اومومنان دي نو عزت من یعنی مسلمانان به بی عزته خلك یعنی منافقان وشړی او داخو رښتیا خبره ده چی عزت من به بی عزته له منځه لری کړی خو عزت په ایمان کی دی نه په دنیوی شتو اودبدبه کی ، خبره که څه هم لږشانی اوږده شوه خواوس به په اصلی مقصد ګران لوستونکی ښه وپوهولی شم اوهغه داچی په افغانستان کی دارامی راتللو اوپه منطقه کی دامنیت راوستلو لپاره باید کوم ډول زعامت رادمخه کړای شی بده به نه وی چی ددی ملت سابقه هم دنظرلاندی ونیسو

اوهغه داچی امان الله خان یعنی هغه څوك چی داستقلال دګټلو په نوم یی دخپل نامه سره غازی لیکلو له دی کبله چی په دینی علم اوعمل کی یو پاتی سړی وو دی ملت ته دترقی ورکولو په نوم یی داسلامی دین پر ضد ملاوتړله اوغوښتل یی چی دا اسلامی ملت همغه شانی له دین څخه لری باسی لکه اتاترك چی دترکیي ملت له دین څخه لری ایستلی دی اواوس هلته داسی حالت راغلی چی پرده لرونکی ښځه ددرس او تحصیل څخه رسماًبی برخی ګڼل شویده « متاسفانه چی ښځو دحقوقو مدعیان پدی برخه کی کاملا بی اعتنایی کوی » خوله نیکه مرغه چی ددی ملت بادرده عالمانو دهغه مقابل کی داملت راوښوراوه چی په نتیجه کی دافغانستان په ارمان ګور ته ولاړ او داملت خدای دهغی بلا څخه بچ کړو متاسفانه چی حبیب الله (دسقاب بچی) یومشهور داړه مار له دی کبله دافغانستان ټولواك شو چی امان الله خان ته یی ماتی ورکړی وه معنا داچی په سلطنتی چوکی دکښیناستلو معیارزور وګڼل شو او شرمښ باید دګډو امیروأوسی. کاشکی په اسلامی معیار هغه وخت زعیم ټاکل شوی وای او دملت متدین وګړیو مدبرمتدین ددین او ملت سره همدرد ددی ملت قائد جوړکړی وای نه خو به بیا نادری او سقاوی جوړیدای اونه خوبه دغه شانی جنګونه دافغانستان په مسلمان ملت تحمیلیدل لکه چی ومولیده .

دحبیب الله داړه مارو یارانو دقدرت څخه بدی استفادی پیل کړی هغه عیاشی او فحاشی ته یی لاس واچولو چی امان الله ورته دتمدن په نوم ملاتړلی وه او دظاهرشاهی دوری داودی حکومت دبرچی په زور عملی کړی دامسلمان ملت فکروکړ چی دامصیبت کوم چی دلیل او منطق نه منی څوك چی دشرق اوغرب ترمنځ تمیز نشی کولای بالاخره به څه کوی ؟ خوددی پرځای چی ددی ملت خبیر او متدین خلك سره کښینی اودزعامت په برخه کی فکروکړی ،اروپایی قدرتونو دیو اسلامی زعامت دراتلو دمخ نیوی لپاره همداسی هلی ځلی پیل کړی لکه نن یی چی پیل کړی دی اودفرانسی څخه یی دانګریزانو په سلا مشوره نادرخان اودهغه وروڼه چی امانیه دوره کی یی دلته یو څه ښه نوم درلود دحبیب الله پرضد راواستول اودلته نادری اوسقاوی په نوم جګړه پیل شوه ډیری وینی تویی شوی ، خو بالاخره سقاب ماتی وخوړه او دوی هم دسقاب په څیر سلطنتی تخت باندی کښیناستل . نادرخان ته ددی ملت اسلامی احساس داستقلال په جګړه کی ورمعلوم شوی ؤ او پوهیده چی داملکت یواځی اویواځی په اسلامی احساس ساتل کیدای شی اوملت به یی هله ملاتړ کوی چی دی ورته مسلمان او داسلام طرفدارمعلوم شی ځکه یی نو په څوماتو کی دحکومت خط مشی او کړنلاره اعلان کړه او خلکو ته یی داډ ورکړ چی دامان الله په شانی به کفری نظام

په ۳ مخ کی

اوس اوس چي شرق اوغرب لګيادي چيغي وهي او وايي چي دافغانستان سرنوشت دي پخپله افغانان وټاكي بياهم ګورو چي ديوه اسلامي زعامت چي په اسلامي لاره جوړشي مخه نيول كيږي

په ځینو جوامعو کی دبد اخلاقي معیار هومره پورته ځي چي حتی نارینه وته دنارینه و سره دنکاح قانون راباسي اوکه اکثریت دځناورو سره دجنسي غریزي په اجراکولو معتاد شي نودځناورو سره دنکاح قانون به هم ورته تصویب کړي اومعناداچي دانسان څخه به ځناور هم جوړکړي

دوهم مخ پاتې برخه

د زعامت مینه

نه راولی خو څلورکاله لانه وُ پوره چی استعماری طاقتونو دی دپاره له منځه ویوړو چی نادرخان دسردار محمد هاشم خان دفاسد سیاست ملاتړ نه کوی او ممکن چی داملت یو وخت دنورو اسلامی ملتونو لپاره دمرکز حیثیت پیداکړی ، اوپرځای یی دمحمد هاشم دلاس یوه آله محمد ظاهرشاه په تخت کښیناوه اودیوه مقتدر صدراعظم په حیث یی پیل وکړ چی داسلامی دین لمن ورتوله کړی بینی علما یی چی دجمعیت العلما په نوم یرغمل کښینول ، فاسدو ملکانو اوقومی مشرانو ته یی دهرډول ظلم او تیری او رشوت خوری دروازی بیرته کړی او ددی ملت دهرډول اقتصادی او معنوی ابتکاراتو مخه یی ونیوله چرګان هم ده ساتل او کارخانی هم باید دهمدوی وای، معادن هم باید مځکه کی پاتی شی اوسرمایی باید حکومت په لاس کی واخلی ترڅوداملت هومره وږی تږی په تن لڅ شی چی دنوی لوږو ته له سره متوجه قدری هم نه شی. دهغه څخه وروسته ددی کورنی هریوه غړی وخت په وخت همغه لوبه وکړه اوپه پای کی داود دخپل حکومت په وخت کی دبرچی په زور هغه څه پدی ملت ومنل چی امان الله خان یی اراده کړی وه او دامعلومه شوه چی دادواړه یوشانی داستعمار طرفداران او دکفری نظام پلویان وُ ، که څه هم په قندهار کی ځینو مسلمانانو بیا هم انقلابی حرکت وکړ خودوی حکومت په نورو بارسوخه خلکو کی دهیلی او ویری داسی زولنی اچولی وی چی دقندهار خلك یی په ګولیو سروی سروی کړل خو بل چاغوږهم ونه ښوراوه اوپه نتیجه کی دفحاشی اوعیاشی بازار تود شو ددین اودینداره خلکو سپکاوی دنوی تمدن او تنورنښه وبلل شوه دکفری نظام لپاره کاملاً زمینه مساعده شوه ، دغه وخت وو چی روسانو سره امیدونه پیداشول اوخپل بریخی یی منظم کړل ترڅو دنصرانیت په نوم دلته دکارمخه دالحاد اودهریت په راوستو ونیسی اوومولیدل چی همغه دحبیب الله خط مشی یوه بل پسی تعقیب کړه ، داود راپاڅید ظاهرشاه یی څملاوه ، بیا ترکی داود راوپرځاوه او وروسته حفیظ الله امین تره کی ترستونی ونیوه او روسانو ببرك راووست دامین پرځای یی کښیناوه ، یعنی هریو چی لاس یی برشو چوکی ته یی ورودانګل اوداملت یی په لیوانو وخوړ . اوس اوس چی شرق او

> که نن کوم واقعي مجاهد دواقعي مجاهدینو سره لاس یوکړي اوخلکو ته اطمینان ورکړي چي دچوکي لپاره نه ، بلکي دالله پاك لپاره داملت ازاد وي اوچي امنیت قایم کړي بیابه داسلامي طریقي سره سم زعامت تاکي ، باور لرم چي ګرد ملت به دغدارانو اوخاینو خلکو تغروړتول کړي اوهیڅکله به هم دحزب او حزب بازي،سیمي اوژبي ترتأثیر لاندي رانه شي

غرب لګیا دی چیغی وهی او وایی چی دافغانستان سرنوشت دی پخپله افغانان وټاکی بیاهم ګورو چی دیوه اسلامی زعامت چی په اسلامی لاره جوړشی مخه نیول کیږی ملحد رژیم چی دروسانو په لاس جوړشوی، دیته ندی حاضرچی په اسلامی لاره دی اسلامی زعامت جوړشی بلکه لکه دسقاب غوندی یی پښی کلکی کړی ترڅو دتوری په زور له چوکی ولویږی. روسانو بالخاصه اودنیاوالو عموماً دهمدی غیر قانونی او غیر اسلامی زعامت پښی ورکلکی کړیدی روسان هرڅه ورکوی اونورو نړیوالو یی په بین الملل کی نماینده منلی دی او هم یی تجارتی اوسیاسی اعتبارات منلی دی چی که نن هزبندی هم وشی نوسبابه بیاپدی ملت کی دجګړی اور بلیږی .

ددی ترڅوا زموږ ځینی مجاهد وروڼه که هغه دتنظیمونو مشران دی اوکه دکوم ولایت امیران دی هم دی زعامت ته بیوهلی ناست دی چی کله به دسقاب بچه په شانی داچوکی په زور ترلاسه کوی چی دغه انګیزه دذات البینی شخړو دلوی نه لوی عامل بللی شی ښه نو خدای مه کا که دافغانستان دملحدانو په لاس کی پاتی شی اوکه دکوم حبیب الله مانند مجاهد په لاس کی پاتی شی تاسو څه فکرکوی چی دی ملت ته به کومه مادی یا معنوی ګټه ورسوی اوکه دتل لپاره به دتوبو او سرو جنګونو په لمن کی پریوزی. ماخو لومړی وویل چی اسلامی تولنی به هله ارامیږی چی زعامت یی په اسلامی لاره رامنځته شی نن سبالانورڅه هم ګورو اوهغه داچی یو څو تنه چی نه سلفیان دی ، نه حنفیان بلکه پخپله هم بی لاری دی اونورخلك هم بی لاری کوی راپاڅیدلی دتوری په زور زعامت نیسی دوی که سترګی لری نو ودی ښیی چی چادچوکی لپاره پردی وینی تویی کړی. دیزید مقابلی ته حسین (رض) توره پورته نه کړه خو دصبغت الله مجددی مقابلی ته داپه نامه سلفیان راپورته کیږی ، لاره یی بندوی ، موټر یی چوروکوی اودتوری څخه کاراخلی . په کنړکی یوه تنظیم هم دغه امارت ندی منلی خو هغه ټول باغیان دی او داتش په نامه سلفیان چی دسلفیانو څخه دی یی خدای قربان کړی په حقه دی اوهغوی پسی بایدتوره راواخلی . ښه که داتوریالی سلفیان وړاندی لاړشی ایادوی امارت په شرعی توګه راغلی دی ؟ څوك به ووایی چی هو ؟ نودابه یو بل سقاب بچه وی چی ددی ملت تباهی به راولی .اخوا دجناب (!) ظاهرشاه تحریك روان دی هغه دشاخدارو دروغو څخه استفاده کوی اووایی چی زه زعامت نه غواړم، نوچی دی یی نه غواړی ګوته دی ورته ونیسی چی زعامت باید دچاپه غاړه ولویږی ، دکوم متدین مسلمان ددی ملت سره دهمدرد اوپوه انسان په غاړه اوکه دده په څیر دیو بل دین فروش ،ملت فروش ، عیاش په غاړه ؟ اولاره یی څه ده ؟

ښه فرض به کړو چی دامو بیا راووست زه نه پوهیږم چی ده په کومه اسلامی نړی کی شپی ورځی تیری کړی چی دلته به اسلامی حکومت وچلوی ؟حقیقت دادی چی دی اودده په څیردانور که بی داسلامی لاری څخه زعامت اخلی بیابه نواول په اوله جهادی عناصرله منځه وړی ترڅواینده کی یی کفریاتو مخه ونه نیسی،څوړدی هم باور وکړی چی اسلام ناختمیدونکی دین دی اوبیابه جهاد پیل کیږی اوددی مظلوم ملت وینی به توئیری ، ښه نو که څوك دافغانستان وی باید صرف همدی لپاره هلی ځلی وکړی چی دی مسلمان ملت ته داسلامی دین په اساس مسلمان، متدین ، دمال اوچوکی دحریصانو څخه پرته دزعامت لپاره خلك وټاکل شی اوټول مجاهدین یی اطاعت ته سرونه ښکته کړی ، نه خو داحزبونه ترهغی رسمی بللی شی ترڅو چی دنوی اسلامی حکومت اساسی قانون چی دقران او سنت په سیوری کی به جوړیږی ، اجازه نه وی ورکړی اونه پدی پلمه چی جهاد یی کړی دزعامت حق ورکولای شی .

ابوعبیده ابن جراح (رض) او خالد بن ولیدښه مجاهدین و، خو دخلافت منصب ابوبکر (رض) ته سپارلی شی . حضرت علی (رض) دحضرت عمر (رض) څخه لومړی مسلمان دی خو هغه څلورم او عمر (رض) دوهم خلیفه کیږی . دزعامت معیارنه خوپه تحریك کی سابقه داری ده ښه خو دجنګ په ډګر کی شجاعت دی اونه دحزب غټوالی وی ،دزعامت معیار پوهه ، تدین اوسیاسی خبرت ورسره ورسره دمال او چوکی سره عدم علاقه ګی ده .

مجاهدینو او مهاجرو ورونو! په هیچا دوکه نشی ، بین المللی طرحی په کوم منطق ندی بناء شوی دغه طرحه غواړی کافر او مسلمان افغانانان سره ګډ اسلامی حکومت جوړکړی معنا داچی سپی اوسړی دی سره ګډ لمونځ وکړی دغه شانی یوحکومت چی کافر اومسلمان پکی یو شانی وبلل شی کله اسلامی بللی شی اوکله په دی ترتیب دافغانستان داسلامی حکومت تشخص په لاس راتلای شی ؟

مجاهد مسلمانان یاپه بل عبارت هغه خلك چی نه روس ته متمایل دی اونه غرب اوامریکا ته چی همداواقعی مجاهدین هم بللی شی باید سره یو لاس شی دتوری او توپك په زور دیوه اطمینانی مسلمان پوه شخص ترقوماندی لاندی دښمنانو ته ماتی ورکړی اودافغانستان اداره په لاس کی واخلی اوکله لادنجیب په لوری هم مخ وراړوی لوی علت یی هم دادی چی په رهبرانو کی هم دچوکی اوشتمنی دهغوحریصانو له لاسه داموجوده حکومت دړی وړی شو چی یاخویی اصلاً په افغانستان کی اسلامی حکومت نه غوښتلو اویاخویی دچوکی ارمان ترسره نه شو، ځکه نو دامجاهد ملت سراسیمه شو اوفکرکوی چی زعامت منحصر په خائنانو کی دی او باید دشرق یا غرب دښمنانو ته لاس وروغزوی که نن کوم واقعی مجاهد دواقعی مجاهدینو سره لاس یوکړی او خلکو ته اطمینان ورکړی چی دچوکی لپاره نه ، بلکی دالله پاك لپاره داملت ازاد وی اوچی امنیت قایم کړی بیا به داسلامی طریقی سره سم زعامت ټاکی، باور لرم چی ګرد ملت به دغدارانو او خاینو خلکو تغر ورټول کړی

> ابوعبیده ابن جراح (رض) اوخالد بن ولید ښه مجاهدین وُ ، خودخلافت منصب ابوبکر(رض) ته سپارلي شي ، حضرت علي (رض) دحضرت عمر (رض) څخه لومړي مسلمان دي ، خو هغه څلورم اوعمر (رض) دوهم خلیفه کیږي ، دزعامت معیار نه خوپه تحریك کي سابقه داري ده ، نه خو دجنګ په ډګرکي شجاعت دي اونه دحزب غټوالي وي

اوبیا دمحمدی شریعت سره سم یو اسلامی زعامت جوړکړی چی داملت ارام شی اوپه منطقه کی دوینو دتویولو څخه پرته امنیت ټینګ شی. زه باور لرم نن سبا چی ځنی ساده لوحه واقعی مجاهد کله دظاهرشاه دمفسدو نوکرانو سره دانډیوالی لاسونه ورکوی اوهیڅکله به هم دحزب او حزب بازی ، سیمی او ژبی تر تاثیر لاندی رانه شی .دشرق او غرب اوبین المللی استعمار څخه به نجات مینده کړی داحزب دهمدغه شانی باعزمه متدینو مجاهدو ملاتړ کوی او ټول امکانات به یی په خدمت کی استعمالوی .

په میدان ښار کی دکابل رژیم ۳۳ تنه عسکراوملیشه وژل شوی دی

میدان ښار ، میډیا:

دوردګو ولایت نه دیوه خبر له مخی مجاهدینو دجوزا په ۲۷ مه نیټه ددرندو وسلو څخه په کار اخیستلو دکابل رژیم پر قواوو باندی دسفید خاك ، ده افغانان او کره چغ په سیمو کی برید وکړ چی دهغی په نتیجه کی دملحد رژیم یو شمیر پلویان مړه او یا ټپیان شوی اونومړی سیمی درژیم دقواو له کنترول نه ازاد شوی دی دجګړی په دوران کی دګلم جم ملیشی ۱۲ تنه وسله وال کسان ژوندی نیول شوی .

همدارنګه مجاهدینو دجوزا په ٢٤ مه نیټه دسره پله اوغلو غونډی پرپوستو باندی یو لوی بریالی عملیات ترسره کړل چی په نتیجه کی یوه پوسته فتحه او ٢٥ تنه عسکراو ملیشه مړه او یوشمیر نوریی ټپیان شویدی.

پدی جګړه کی مجاهدینو دکابل رژیم له عسکرو نه یوه میل راکټ، ۱۰ میله کلاشینکوفونه یوه پایه مخابره او ۲۰ صندوقه ګولۍ ولجه کړیدی.

دغه راز ددی ولایت مجاهدینو دجوزا په ۲۲ مه نیټه په نومړی سیمه کی دکابل رژیم پرقواو باندی ددرندو وسلو ډزی وکړی چی درژیم یوه عراده ټانك سوزیدلی او ۸ تنه ملیشه یی وژل شویدی .

ای دافغان بچيه وخوځيږه بيږه وکړه
دنيا لګياده بياتورمخی ګنهګار راولي
که موږ همداسی ګوښی ګوښی يوله بله ګرځو
باور مووشه چی هغه ملی غدار راولي

شهيده

ملااسدالله حنيفی

سپين بيرغونه رپيدل ته نهوې
چی سره پوځونه تښتيدل ته نهوې
دوخت ځواکونو راته سرکرښکته
چی په امپوريوتل ته نهوې
ستاقربانيو رنګ راوری وروره
چی سره لاله راتوکيدل ته نهوې
په ګران وطن کی دی ډيوی شوی بلی
چی تورتمونه ماتيدل ته نهوې
ته خو په پيل کی شهيد شوی ګرانه
چی ستاصفونه پخيدل ته نهوې
ستاسنګرونه لاتوديږی پسی
چی په لکونو ځاريدل ته نهوې
کلی باندی دښتی دری اوغرونه
چی په سرو وينو سره کيدل ته نهوې
تاخو ارمان يو وړو له ځانه سره
چی زور ګويان را ټيټيدل ته نهوې
تاخو خپل ځان کړله اسلامه قربان
چی سره ديوان راپرځيدل ته نهوې
ته خو الله ته شولی وصل وروره
څوچی په تاپسی درتلل ته نهوې
ستايتيمان چی درپه دره شولا
چی «حنيفيان» پری ژړيدل ته نهوې

لنډۍ

دشهيدانو وينې وروره
چې سمندر په څپوراشي اباسينه
تاومې دزړه له سره خيژي
چې راپه يادشي دروسانو ډير ظلمونه
ته دمسکوپه زور نازيږه
زه به دخدای (ج) په حمايت باور لرمه
«حقاني » بياسنګرته لاړو
ايمان په زور به دښمنان له منځه وړينه
څوك په وطن توټې توټې شول
څوك دشهيد په وينوکړې تجارتونه
دبل ترسيوري لاندې ژونده
ترتابه ښه وي چې پراته وي په چاغرونه

انتخاب دهويښې جذبې ، روغ توپانونه « له کتاب څخه

په سترو يارونو نه ډيرلرې! نګل

شفيقي

ماخوپه خيال کی دهغه فاتحه اخيستی وه ،جنازه می ورته ټوټی ټوټی اوټوکورټوکور په خاورو سپارلی وه ،خوعجيبه داوه چی هغه می روغ رمټ مخی ته ودريد ، اوبيا زمازړه ته سمدستی داخبره ولويده چی خدای ج نه وی وژ-لی څوك يی نشی وژلی ، دادی زما اشنادمونو اوراکټونو په ږلۍ دګوليو په باران اودباروتو په لمبو اوتوپان کی خدای (ج) روغ رمټ ساتلی ؤ.

په ريره کی يی د«وقار » نخښو دزيات عمرغازی کوله ، خوغوړيدلی اوموسکی شونډو يی دځوانو ارادو اوځلميو ارمانونو کيسی ويلی ، په څيره کی يی هغه برم موجونه وهل چی جهاد وربخښلی ؤ،

ددواړو زړونو کی رازونه وو ، زما په زړه کی دهجرت دبی وسيو اوبی غوريو رازونه اودهغه په زړه کی شهادت، دماحول داتلوليو اوقربانيو کيسی،يادونه اورازونه ،

اوبيادواړه يوبل ته مخامخ کيناستلو ، نه پوهيدم څه وړ دجهاد په مينه اوباده مست اشنا دسرواو سپينو په ځل بل کی ډوبو جنابانو له کړو اشارو خبر کړم .

څه وردهجرت په ديار کی دحاکم چاپيرچل په غيبت خوله خلاصه کړم ؟

اوپه کومو ټکو کی له . . . نه پرسيدلی زړه خپل خواږه اشناته تش کړم ، اوبيالږه شيبه وروسته زه له خپل ماحول اوچاپيريال نه بيګانه شوم ، زه په هغو خړو پړو غونډيوکی ګرځيدم چی خدای (ج) دمسلمان اوشيطان دمقابلی لپاره دامتحان ډګر ګرځولی وی .

په هغو هسکو،ټيټو لارو ښکته پورته کيدم چی ګام په ګام داسلام دلاری غازيانو دخپلو وينو ډيوی وربلندی بلی کړی وی ،په هغو هسکو څوکو راتاويدم چی دحق پالوفدايانو پاکی ارواوی پکی له خپل رب سره دملاقات په لوری تری الوتی وی .

مادتکبير هغه غږونه اوريدل چی په شور اوزوږ کی يی کريملن اوواشنګټن دواړه په لړزه راوستلی وو، اوهغه څيری می ليدلی چی دفتحی اوبری مهرونه پری لګيدلی وو ، اوهغه ګامونه اوقدمونه می ليدل چی دسره پوځ برجونه اومورچلونه يی لاندی کړی وو ، زماپه مخ کی زما اشنا ؤ زه يی ترلاس نيولی وم ، پر ښه په پرښه ، مورچل په مورچل اوګام په ګام يی داسلام دغازيانو په مورچلونو وګرځولم ماته يی هغه وينی راوښودلی چی دراتلونکی پسرلی زيری يی له ځانه سره لرلو ،

هغه پلونه يی راښيل چی نيغ دجنت اوسعادت په لوری تللی وو ، هغه کوډلی يی راوليدلی چی د «زهق الباطل » اعلانونه يی کول او . . . زه له هغه سره ګرځيدم ،

له خپل اشنا سره ، دغازيانو له هغه باوقاره سالار سره چی هرګام يی مړاؤ زړونوته دحرکت اوبون شيمه ورکوله .

اوبيا دسترګو په رپ کی زما مزلونه اوسفرونه رالنډشول ، اشنامی مخامخ راته ناست ؤ ، هغه راته دشهادت اوشرافت دمورچلونو کيسی کولی اوزه دهجرت په دوړو خړپړ له هغو سترو وياړونو اوافتخارونو نه ډيرلری اوبی برخی وم ، غوښتل می ددغه ساړه محيط نه پرسيدلی زړه می اشناته تش کړم خودهغه په څيره کی دجهاد برم اووقار زما ژبه ګونګی کړه اوډك زړه په سکوتونو محکوم پاتی شوم.

لنډه کيسه = دوه پوړيزه ودانی

عوض الدين «صديقي»

ښه دپخوخښتو ، سمټو او کانکريټو جوړه شوی دوه پوړيزه ودانی ده دودانی ښايست ته چی وګوری هماغه داروپا دعصری ودانيو نقشه ده چی نسبتاً په افغانی ښه پری تطبيق شوی ، دوو خواووته ښه لوی انګړ لری ، دودانی ټول مساحت ښايی يو ، يو نيم جريبه ځمکه وی ، تعمير يی په منځ کی اچولی دوو خواو ته يی دبخملو په شان چمن دسړی نظر جلبوی شاوخوايی دمرسل غوړيدلوګلانو ښايست لا زيات کړی ښيی غتی ، غټی اشه داری ورسی لری ورسيو ته داسی درندی پردی اچول شوی چی درڼايی يوڅرك هم بهرته نوتلو سوره نشی موندلی ، شاوخوا يی نوری ودانی هم نشته له دريو خواوڅخه شنو ، شنو پټيو غيږه تری راتاوکړی .

ظاهراً ډير ارامه ودانی راښکاری ، په لومړی نظر ودانی داسی ښکاری ته به وايی چی دکوم شتمن سړی کوردی اودموسك موسك کيدو پرته به دکرسنده خنداوانګازی هم نه وی پکی خپری شوی خوچی ښه ورته ځيرشی بياداسی نه ده ، دوه دريو دقيقو کی حتماً يايو موټر ورته راځی او ياهم تری ځی ، موټر به چی راغی سم به يی مخ وراړولی نه ؤ چی دروازه به خلاصه شوه اوبيا به دسترګو په رپ کی بيرته پوری شوه اوکه بيا به کوم موټر ووت سم به يی ورووستی تيرونه نه ؤراوتلی چی ددروازی دپوری کيدوکړنګ به تر غوږشو.

داودانی زموږ دبی وزلو وګړو دتراژيديو سانډو او کړيکو شاهده ده ، دلته به داسی شپه نه وی چی يا دچالاس مات نشی يا پښه هره شپه دلته بی وزلی خلك دخولی کندك ، کندك وينی غورځوی دکوټو ټولو ديوالونو ته دوينو څريکی ورالوتی دی هره کوټه يی دکريکو ، ځګيرو ، چغو او ... سره اشنا ده ، هرديوال هره ورسی او کونج دظالمانو پر ظلمونو ګواه دی دی کور زياتی تراژيدی په خپله سينه کی خوندی کړی ، دلته دډيرو ځوانانو له خولی وروستی سلګی وتلی ، پرتل يی ډير ځوانان چی غورځول شوی بيانه دی راپورته شوی ، دهری کوټی تل زموږ دځوانانو په وينو خال ، خال رنګ دی ، ددی ودانی هرديوال ، دروازه ، ورسی اوکوټه انسان ته دیوه غم او تراژيدی کيسه بيانوی دځمکی لاندی اوږد دهليز اوس هم زما سترګو ته درېږی ، پنځه ، شپږ تنه په لنډی فاصلی سره درول شوی ؤ اودشپی په دوويجو يی زه هم ورسره ملګری کړم ، دهغی شپی تر ورمی هم ډيره وحشتناکه وه ، په تپه توره تياره کی يی زه دهليز ته ورتيل وهلم دروازه يی راپسی بنده کړه او غږيی کړ :

«... په يوه کونج کی ودريږه !...» دوه ، دری دقيقی وروسته برقونه وبرقيدل دروازه خلاصه شوه يو مستنطق اودوه تنه نورچی تنی يی ترنامه خلاصی وی رانن‌ؤل ، په دهليز کی درول شوی بنديان يی ترنظر تيرکړل ، دشپږم بندی مخی ته ودريد:

... همدادی ؟...

ترڅنګ ملګری ځواب ورکړ:

هو ! صيب !...

غاړی ته يی لاس وراوږد کړ، يوه ډيجکه يی ورکړه او سريی دديوال سره ولګيد په ټول دهليز کی دچيغو انګازی خپری شوی دلری يی پری ورمنډه کړه په خيټه کی يی په لغتی وواهه :

... چيغی مه وهه !...

دخپل ملګری پراوږی يی لاس کيښود :

... هغه تيپ به درسره سوچ کړی ...

هغه ده‌ښه » په ويلو سره زينو کی منډه واخيسته يوه دقيقه نه وه تيره چی دتيپ غږچغی سره ورکی کړی کسټ دومره اوچت ؤ چی کريکی ځګيروی اوفريادونه يی سره ورك کړل نور نو چيغی اوکړيکی په دهليز کی ګردی تاويدی شوی اوبس .

بيا يی بندی په سوك وواهه :

... وښيه ارتباطی کسان دې ؟

په ٥ مخ کی

په افغانستان کې دکې ، جي ، بي ورانوونکي فعالیتونه

دیارلسمه برخه .

داکسا، کام ، خاد ، واد - تشکیلات ، فعالیتونه اوجنایات

دثور له کودتا څخه دروسانو په واسطه دافغانستان ترنظامي اشغالیدو پوري

(۱۳۵۷-۱۳۵۸ هـ ش کال)

عبدالوکیل

کودتاچیانو د۱۳۵۷ هـ ش کال دثورد ۷ نیټې په ماښام دراډیو څخه داسې اعلان وکړ چې ټول سیاسي قدرت نظامي انقلابي شوراته نقل شوی خو دنظامي انقلابي شورا سیاسي هویت یې څرګند نکړ چې په کومو ګوندونو پورې اړه لري اوغړي یې څوك دي دکودتاڅخه دری ورځې وروسته یې بیا دراډیو څخه اعلامیه صادره کړه چې انقلابي شورا جوړه او نظامي شورا په انقلابي شورا کې مدغمه شوه.

تره کی دانقلابي شورا رئیس او صدراعظم په توګه اوکارمل یې دانقلابي شورا او صدراعظم دمرستیال په حیث وټاکل اودافغانستان راډیو له لارې یې داساسي خطوطو په نوم (خلقیانواوپرچمیانو داساسي قانون په مشابه تعبیر اوه) ظاهراً خپل پروګرام او راتلونکي تګ لاره څرګنده کړه خو دافغانستان مسلمان ولس د قبلیدو وړونه ګرځیده .

روسان ، خلقیان اوپرچمیان په دې عقیده ؤ اودایې په ډاګه څرګندوله چې دخلك دموکراتیك ګوند (دخلق اوپرچم مزدورې ډلې) ټانکونه ، طیارې اونورې مدرنې وسلې په لاس کې لري

او روسان یې هم ترڅنګ ولاړ دي پس هرپلان اوپروګرام چې وغواړي دافغانستان پرمسلمانو خلکو یې تطبیق کولای شي نو په کم وخت کې یې دافغاني ټولنې څخه روسي ټولنې ته ورته ټولنې جوړولو پخاطر زیات شمیر فرمانونه صادرکړل . په دولتی موسسو خصوصاً اردوکې دروسي مشاورینو کمیت ډیر شو اودافغاني ټولنې په سیاسي اقتصادي ، کلتوري اوټولنیزو ساحوکې یې دانساني فطرت اوترقی ضد تغیراتو راوستلو پروسه پیل کړه .دخلق اوپرچم ډلو دافغانستان مسلمان اوننګیالي ولس ته هغسی په خوارو ستر ګوکتل لکه څومره چې دوی خوار اوذلیل

ږ دوی به ویل چې «تودې پادې دي چې هرې خواته یې بیایې هغې خواته ځي » خوتاریخ اوعمل ډیره زر وښووده چې داخلقیان اوپرچمیان دي چې روسان یې دغلامانو اولاس تړلیو بندیانو په څیر هرې خواته ځغلوي هغې خواته ځغلي . په رښتیا هم چې روسانو اومزدورانو یې (دخلق اوپرچم ډلې اونور اجنتهان) دافغانستان مسلمان او ننګیالی ولس دکروندو، رمو ، ګلو اونورو عادی کارونو ترسره کولو په بهیر کې نرم ، متحمل اوخواره لیدلی ؤ خوپه دی نه پوهیدل چې دافغانستان مسلمان ولس چې هرڅومره ارام ښکاري نو بیا داسلام اودافغانستان داسلامي خاورې څخه په

دثورکودتا په دریمه ورځ دپکتیا ولایت دځدرانو په سیمه کې یې دکودتاچیانو (خلقیانواوپرچمیانو) اوددوي طرفدارانو سره اسلامي چلند وکړاوهغوي یې له منځه یو وړل.

دفاع کې سیلابونه اودښمن تباه کوونکي توپانونه ترې جوړیږي.

دخلق اوپرچم ډلې لادپخواني ټولواك محمد ظاهرشاه په دوره کې دافغانستان په مسلمان ولس کې دبې دینه ، دهري ، بې کلتوره (دافغاني بااارزښته عنعنوضد) اودروسانو په طرفدارانو مشهورشوي وو خوکله چې دثور ورانوونکي کودتا څخه وروسته یې سیاسي قدرت په لاس کې ونیوه دافغانستان دمجاهد او باتوره ولسونو سره یې داسلام عقل اوانسانیت څخه لیرې سلوك اوکړه وړه پیل کړل خودافغانستان مسلمانانو هغوی لاپخوا پیژندلي وواودثور کودتاً په دریمه ورځ دپکتیاً ولایت دځدرانو په سیمه کې یې دکودتاچیانو (خلقیانواوپرچمیانو) اوددوی طرفدارانو سره اسلامي چلند وکړاوهغوی یې له منځه یووړل وروسې یې په کنړونو کې

پرخلقیانواو پرچمیانو ورودانګل اوترمرګوني ګوزارونو لاندې یې راوستل دڅومیاشتو څخه وروسته دافغانستان په ټولو ولایاتو کې دروسي مزدورانو پرضد وسله وال جهاد پیل شو اوپه هیواد کې یې اکثریت ولسوالی اوعلاقه داری دایمان اوحق په زور آزادې اودروسی ګوډاګیانو شوم پلانونه یې دشهادت دسروینو په سیلاب کې ډوب کړل .

په ۱۳۵۷ هـ ش کال دحوت په ۲٤ نیټه دهرات په ولایت کې دروسي مزدورانو یعنې دتره کی اوامین غیر اسلامي رژیم پرضد وسله وال اسلامي پاڅون وشو اوټول ولایت دمسلمانانو په واسطه فتحه شو خودروس هوایي قواؤ په کمك سره په روسي بمونو باندې یې ټول ولایت زیر اوزبرکړ او۲۸ زره مسلمانان یې په شهادت ورسول دغې دحق اوباطل سختې جګړې څخه وروسته دهرات ښار مجاهدینو تکتیکي عقب

نشیني وکړه اوپه ټول افغانستان کې دمجاهدینو بریدونو اوبریالیتوبونوشدت پیداکړ. نوکه چیرې په ۱۳۵۸ هـ ش کال دجدې په شپږمه نیټه روسانو مستقیمه نظامي مداخله نه وای کړې دخلق اوپرچم ډلو دله منځه تللو شرایط تیارشوي وواما دروسانو مستقیمې نظامي مداخلې داپروسه وځنډوله اودافغانستان دلابې ساري مادي اومعنوي ارزښتونو دبربادی سبب شول .

دثور کودتا څخه څلور میاشتې وروسته دخلق اوپرچم ډلو ترمنځ اختلاف علني بڼه غوره کړه اودپرچمیانو مهم غړي یې باندنیو هیوادوته دسفیرانو په توګه ولیږل کارمل یې چکوسلواکیا محمود بریالی یې پاکستان ، نوراحمد نور یې امریکا نجیب یې ایران اونوریې نورو هیوادونو ته دسفیرانو په حیث ولیږل که څه هم امین دې ته دومره نه ؤتیار چې روسان په خپل ځان باندې دفوق العاده قوماندانانو په څیر ومني اوددولتي اوګوندي چارو څخه دپرچمیانو شړل دامین په خوښه ترسره شول خودسفیرانو په توګه دکارمل اونورو پرچمیانو لیږل دروسانو یا کی ، جی ، بی

په ۷مخ کی

دوه پوړیزه ودانی ...

په ژړغونی غږیی ددنه یی لرم » ځواب ورکړ ، دلری نه یی پری رامنډه کړه ، په لغتی یی وواهه اوپردیواله یی وویشت ، یو کړس شو سریی پر دیواله ولګید اووینی پری راماتی شوی ، بیا مخکی ورغی له ګریوانه څخه یی ونیوه اوراجګ یی کړ ، هغه بیا ورته وویل :

... والله که یی لرم ... یا یی پیژنم ... غاښونه یی ورته وچیچل

... نه یی پیژنی ...

خپل ملګری ته یی سترګك وکړاودسترګك سره سم یی کنداغ دولو په منځ کی ولګید :

دمخامخ دیوال سره ومښت اوپرځمکه ولوید.

له خولی یی کندك ، کندك وینی تویی شوی ، خپلو ملګرو ته یی اشاره وکړه :

...پورته یی کړی ...

هغه خوری وری پروت ؤ ، سترګی یی ړدی ، ړدی پړسیدلی وی ، کالی مخ او ویښتان یی ټول په وینو لړلی ؤ ، دخولی یی کندك ، کندك وینی تویدی ، دلاسو اوپښو یی ونیوه اوپه زینو کی یی وخیژاوه مستنطق دنورو بندیانو خواته ځیر ، ځیر وکتل :

... ګوری چی سترګی مو رپ ونه وهی ... زه یو ځل هغه دتورو خاورو میلمه کړم ، بیا ستاسو خدمت ته هم راځم .

موږ اوډوحشت ، ویری اوځیګرو ډکه فضا په دهلیز کی پاتی شوو یوپوځی دوسلی سره زموږ مخی ته ګرځیده ، دچابه چی سترګی رپ وخوړ بیا به کنداغ پری لګیدلی ؤ ، دلته دځګیرو ، کریکو اخ خدایه مړشوم ... فریادونه ؤ اوبس ، چی دودانی ښایست ته وګوری ته به وایی چی دتازه دکو خنداو پرته به بل څه دشپی چوپتیا نه ماتوی خونه داسی نه ده دادمرګ ، ژوبلی ، وهلو ، ټکولو او ... مرکز دی ، دلته ډیر ځوانان په تړلو سترګو راوستل شوی اوبیرته په ابدی خوب ویده ګرنګونو کی غورځول شوی ، دادډیرو ځوانانو دساه ورکولو شاهده ده ، په د ی کی زموږ دملت دغمونو ډیر داستانونه خوندی دی ، دهغی څپك ، څپك یوه کیسه دځان سره لری ، دلته دډیرو ځګیروی په ستونی کی ورك شوی ، یوڼیم یی چی ترڅنګ تیرشی وایی : څومره ښه ودانی ده ...

خودلته دډیرو کورنیو دزړونو غوتی رژیدلی ، دډیرو تنکی هیلی ترخاورو لاندی شوی په دی دوحشتونو او غمونو ډکه دوه پوړیزه ودانی کي.

موږ په افغانستان کې څه ولیدل ؟

په افغانستان کې دنیول شوو روسي عسکرو خاطرې

ژباړن : عوض الدین صدیقي

په تیرپسې :

همدااوس چی زه دالیك لیکم یو څوارلس کلن ماشوم ولی ګل زما ترڅنګ ناست دی ، دهغه په لاس کی وسله ده چی په ډیر مشکلاتو یی پورته کوی ، داماشوم دخپلو نورو ملګرو سره پردی سترې سفرکی روان دی چی داسی سفرته ښایی ډیرقوی او تندرست خلك هم دوام ورنکړای شی . خودی خپلو ملګرو سره دروسانو پرضد شپه او ورځ جنګیږی چاچی دی دماشوم توب له مستیو محروم کړی .

روسان په څه ډول خلك دپرمختګ لاری ته برابرول غواړی ؟! هغوی خلکو ته څه ورکوی دشرابو ، غلا او فساد پرته مارکس او لینن خلکو ته څه سوغات لری ؟

روسي پوځونه که افغانان دوژلو ، زوږلو له لاری ویروی نودادی هم په یاد ولری چی افغانستان هیڅکله چانه دی لاندی کړی ، افغانان په افتخار سره وایی چی مرګ منو خودروسانو پرغلامی نه یو راضی دروسانو وحشی پوځیان په افغانستان کی دسوبی په انتظار دی خویو حتمی ماته ددوی انتظار باسی . »

افغانستان دمسلمانانو ځای دی اواسلام ددی خلکو عقیده ده یوه خبره یوه مجاهد ماته دخبرو په دوران کی وکړه ، هغه وویل : داسمه ده چی روسان دماتی خوړولو سره سره تراوسه په کامله توګه ندی په شاشوی خودمړنو هلیکوپټرو وسلو اودرندو بمباریو سره سره فتحه تل دمجاهدینو په برخه وی دافغانستان په پوځ کی بیخی کموالی راغلی کله ناکله دهغوی زیات شمیر دوسلو سره مجاهدینو سره یو ځای کیږی ، داپوځیان دخپل هیوادداوسیدونکو پرضد جنګیدل نه غواړی داخلك په خپلو قطعاتو کی خپل مذهبی مراسم نشی سرته رسولی هغوی دخپلی عقیدی څخه منع کړای شوی هغوی خپلو عقیدوی اصولو باندی عمل نشی کولی دکوم لپاره چی دتاریخ په اوږدو کی دوی قربانی ورکړی .

په ٦ مخ کی

زموږ بری او د استعمارګر سازشونه

شیرباز«کمین زاده »

که بشری تاریخ په غور اوبقت سره وکتل شی نو داحقیقت به روښانه شی چی کفری اوبی دینه طاقتونه دتل لپاره دحق دین « اسلام » په مقابل کی یو او واحد سنګر نیولی دی ، که څه هم ظاهراً خوداښکیلاکګراوکفری ځواکونه یو بل ته دمقابلی په شکل سره ښکاری خوکه په ژوره توګه وکتل شی داټول کفری طاقتونه دمسلمانانو او اسلامی امت دله منځه وړلو اونابودولو لپاره هلی ځلی کوی اونه غواړی چی بشریت دخیر او نیکمرغی په منظور الهی قوانین په جامعه او ټولنه کی پلی کړی کفری ځواکونه دتل لپاره دمسلمانانو په وړاندی دخپل منځی اختلافاتو څخه تیرشوی اوخپل اساسی او بنیادی مشکلات یی ترشاکړی خو دمؤمنانو په مقابل کی یی یو او واحد صف دهغوی دنابودولو لپاره غوره کړی دی .

دحضرت رسول اکرم (ص) په وخت کی هم داسلامی لښکرپه مقابل کی کفری طاقتونو وخت په وخت یو صف جوړکړی اودالهی دین دپیروانو په مقابل کی جګړی ته چمتو او دریدلی دی ، خو څرنګه چی دلوی خدای (ج) اراده شوی وه هماغه ؤ چی دوحدانیت دلاری دپیروانو لیکی ورځ په ورځ غښتلی او پیاوړی کیدی اوپه لږه موده کی داسلام نور دجهان ګوټ ګوټ روښانه کړ ښکیلاکی طاقتونه دتل لپاره هڅه کوی چی ددوی په لاس وضعه شوی قوانین او کفری ایډیا په ګرده نړی حاکمیت ولری اوددی ناپاکو هیلو دترلاسه کولو لپاره کله دکمونیزم اوکله هم په نورو بول بول غولونکو نومونو په بشری جامعه کی بروز کوی .

ومولیدل چی په یو نیم ملیون یهودو یی ټوله عربی نړی وځپله او په سیمه کی یی دیوه وحشتناك او وژونکی قوت په څیرورورزل اوروزی یی ، همدارنګه کشمیر چی دبین المللی اصولو پربنا دمسلمانانو ثابت اومسلم حق ګڼل کیږی خودیوه بل کفری قوت هندوایزم په وحشتونو اوظلمونو کی شپی اوورځی تیروی کمونستی اوتش په نامه دبشردحقوقو غوښتونکی هیوادونه دی ته هم نه چمتو کیږی ترڅودڅ خاوری حق دمسلمانانو وبولی داڅکه چی ددی کارپه کولو سره خوپه ددوی یوبل کفری ملګری خفه اوخوار شی سرو وحشی ښکیلاك ګرو خوپه افغانستان کی دیو نیم ملیون څخه دزیاتو بی ګناه مسلمانانو وینی وبهولی دهیواد په ګوټ ګوټ کی یی هره ابادی په کنډواله بدله کړه ټولی ملی او شخصی ، مادی اومعنوی ارزښتونه اوشتمنی یی خاوری ایری کړی خوداښکیلاك ګر طاقتونه دافغانستان داسلامی انقلاب په تیرودیارلسوکلونو کی یو ځل هم دداسی طرحی سره رامخکی نه شول چی ددی مظلوم ملت خیرپکی نغښتی وی.

خوکله چی دحق دلاری غازیانو په بدنام دښمن باندی رښا ورځ توره شپه کړه نوبیا زر تر زره استعماری ځواکونه په یوه پوچه طرحه موافق اودافغانستان دقضیی دحل لپاره سیاسی لاری چاری لټوی چی ددی مطلب دښه تحقق لپاره ژوندی اوروښانه مثال دخوست ویاړمنه فتحه ده .

خوست دمومنو او باتورو مجاهدینو په متو فتحه شو.اودمزدور رژیم په زرګونو عسکر اوملیشاوی مجاهدینو ژوندی ونیول او په زرګونومیله درنده اوسپکه وسله دمجاهدینو لاس ته ورغله چی دی غوره او ځلانده فتحی دنجیب ګوډاګی رژیم دپوره ماتی اوشکست درشل ته لانورهم ورنږدی کړهمداراز دخوست دفتحی سره جوخت دهیواد په ګوټ ګوټ کی دمجاهدینو پرله پسی فتحی په نصیب شوی دنجیب دلاپو اُوشاپو منتر بند شو استعماری ځواکونو نجیب اودهغه ډله ټپله دهلاکت په کنده کی ولیدله نو زر تر زره یی داسلامی ملت دغولونی اودملحد نجیب دنجات لپاره ډنډوری پیل کړی چی ګواکی دافغانستان قضیه دنظامی لاری نشی حل کیدلای خو دافغانستان مسلمان او مجاهد اولس به داستعماری ځواکونو په هیڅ ډول غولونکی اواسلامی ضد طرحوونه غولیږی اوترڅو چی دافغانستان په پاکه او اسلامی خاوره کی داسلام او خپلواکی بیرغ نه وی رپیدلی خپل مسلحانه جهاد ته به دژوند تر وروستی سلګی پوری دوام ورکړی . انشاالله .

موږ په افغانستان کې . . .

دګوډاګی کارمل مشری منونکی کمونستانو داحال دی چی غټو ښارو ته یی پناه وړی اودروسی ټانکونو په امنیت کی ژوند کوی ، دوی په سرکونو اوکوڅو کی ازاد نشی ګرځیدلی ځکه هغوی پوهیږی چی ښارهم دمجاهدینو له عملیاتو څخه بچ نه دی مجاهدین په خپلو سرونو لوبی کوی اودروسانو پرضد جنګیږی اوددی ترڅنګ دخپل هیواد دوطن پلورونکو پرضد هم خپل عملیات جاری ساتی ».

* * *   * * *

تاسودهغوروسی پوځیانو خاطری ولوستلی کوم چې پخپله خوښه دروسی پوځ څخه تښتیدلی او دمجاهدینو سره یوځای شوی دهغو حالت ، جذبی اواحساسات دتاسو له نظره تیرشول اوس به لږ څه دهغو له خولی واورو چې مجاهدینو دجګړی په ډګرکې نیولی په دوی کی اکثره داسی دی چی تیراتګ دمخه له دی خبرنه ؤچی دلته څه قیامت پیل شوی ددوی په فکر چې وحشی اشرارو!! سره جنګیدو ته راغلی خو کله چی مجاهدینو ونیول اودوی ته ددی موقع پر لاس ورغله چی له مجاهدینو سره وګوری دهغوی له ښواخلاقو او انسانی روش ته ګوته په غاښ شول موږ د دوی ځینی خاطری دپوښتنی او ځواب په بڼه ترتیب کړی سره لولویی!

ناوومعرف:

پوښتنه : افغا نستان ته تراتګ دمخه ته ددی هیواد په باب څومره پوهیدی ؟

ځواب : په (۱۹۸۱م) کال کې په «والګاګراد» کی زمایوه ملګری له حقایقو پرده پورته کړه کنی ترهغی ماته پته نه وه چی افغانستان کی څه کیږی ، پردی ورځ زمالګری اومره شراب څکلی ؤ چی خپل تګ او خبری یی نه شوی کنترولولی ده په روسی مشرتابه او دپوځ پرمشرانو تورولګاوه چی داخلك دروسانو (۱۸)او(۲۰) کلن ځوانان په افغانستان کی وژنی هغه مجاهدینو ته هم کنځلی وکړی ،پردی ورځ دلومړی ځل لپاره زه د افغانستان له حالاتو لږ څه خبرشوم .

پوښتنه : آیاپرروسی مطبوعاتو کی دافغانستان د جګړی پیښی نه خپریدی ؟

ځواب : په مطبوعاتو کی دجګړی په باب یوه کرښه هم نه خپریده خو په افغانستان کی نړیوالومسولیتونو !! ددندوسرته رسوونکوته دجایزو ورکولو خبرونه به خپریدل مابه د «کمسومول سکایاپراودا » نومی اخبار حتماً لوسته او هغه به لیکل چی روسی پوځیان افغانستان کی خپل مهم خدمت سرته رسوی او هغه «مهم خدمت » کوم دی؟پدی باب به یی بیاهیڅ نه ویل ، کله ناکله به په مطبوعاتو کی داسی خبرونه خپریدل چی په افغانستان کی دپرمختګ کارپه چټکی سره روان دی کله به یی دسیاسی ګتوپه خاطرهلته دروسی پوځ دموجودیت په باب ویل چی دروسی پوځ دموجودیت له وجی هلته امنیت دی خو حقیقت به هغه چا ته معلوم ؤ چی مستقیماً به له مجاهدینو سره په جګړی کی ؤ یاهغو ته چی دزامنو ورونو او میړونو جسدونه به یی کورونو ته ورته راولیږل شول؟

ترخوچي تول افغانان ونه وژل شي دهغوي مقاومت ختمول ګران کاردي په همدي خاطر دافغانستان جګره ډيره خطرناکه ده



دافغانستان داقتصادي بحران په هکله
دډاکتر محمد امین فرهنګ څرګندونې

دافغانستان داوسنی اقتصادی بحران اودخارجی معتبرو اسعارو په مقابل کی دافغانیو دراټیټیدلو اوپه هیواد کی دنرخونو دجګوالی په هکله دامریکا غږ خبریال دکابل پوهنتون داقتصاد دپوهنځی له پخوانی استاد ډاکتر محمد امین فرهنګ سره مرکه کړی چی موږیی هم درنو لوستونکو ته خپروو. اداره

ډاکتر محمد امین فرهنګ دافغانستان اقتصادی اوضاع دکمونستی کودتا نه مخکی اوله هغه وروسته د۱۲ کلونو په اوږدو کی مقایسه کړی اوویلی یی دی چی که څه هم افغانستان دکودتا نه مخکی دوروسته پاتی هیوادونو په جمله کی ؤ خو اقتصادی وضعه یی نسبتاً سالمه وه ، دتولیداتو اودپیسو په اندازه کی توازن موجود وو نرخونه په یوه ثابته سطحه کی ساتل شوی اوحتی په سیمه کی افغانی یوله ثابتو پیسو څخه ګڼل کیله .

دثور دکرغیړنی کودتاوروسته څرنګه چی له یوی خوا له دولت څخه دخلکو اعتبار قطعه شو اوله بلی خوا دهیواد ګڼو خلکو دهجرت لاره غوره کړه نو دتولیداتو په سطحه کی ټیټوالی راغی اوهم کمونستانو دجګړی دخرڅ لپاره دپیسو په نشرولو اقدام وکړ دامتعی اوپیسو ترمنځ توازن ګډوډ اویو بی ساری انفلاسیون رامنځته شو .

ډاکتر امین فرهنګ وایی : همدارنګه دکودتا نه وړاندی افغانستان له بهرنیو هیوادونو سره منظمی تجارتی اړیکی درلودی اودهیواد صادراتی عایدات مخ په زیاتیدو ؤ چی نوموړی اړیکی دکمونستانو په دوره کی اودجګړی دپیل کیدو سره ټولی قطعه شوی له بلی خوا بهرنی مرستی چی زموږ دهیواد په اقتصادی نظام کی مهم عنصر ګڼل کیده په ټپه ودریدی دهغه په ځای دجګړی ددوام لپاره مرستی پیل شوی چی په تولید کی یی ونډه نه درلوده څونرخونه ورځ په ورځ جګیدل تولیدل کیږی چی افغانستان ته په هره ساحه کی صدمه ورسیده تولیدات راټیټ شول خودپیسو اندازه زیاته شوه اودغه توازن اقتصاد بیخی له منځه یووړ .

امین فرهنګ زیاتوی داقتصاد دعلم له نظره دپیسو دتورم اودنرخونو دجګوالی دمخنیوی په خاطر چی تقریباً یوډالر دزرو افغانیو په مقابل کی تبادله کیږی داسی وویل : چی ددی کار لپاره په لومړی ګام کی سولی اوارامی اودداسی یوه حکومت منځته راوړلوته ضرورت دی چی دټولو خلکو دقبول وړوی کوم وخت چی امنیت رامنځته شو کیدای شی چی دپیسو اوسنی زیاتوالی اودتولیداتو په اندازه کی په تدریجی توګه توازن راولو .

دهغو مرستو په واسطه چی له بهرڅخه راځی دهغه تر څنګه باید دکرهنی او صنعتی پروژو اولاسی صنایعو کارونه دهیواد په ګوټ ګوټ کی چټك شی اوتولیدات په ډیر لږوخت کی اقلاًدکودتا نه مخکی وختو تولیداتو ته ورسیږی کله چی داخلی تولیدات زیات شول اودپیسو اوتولیداتو ترمنځ توازن برقرار شو دنرخونو سطحه هم کرار کرار ښکته کیږی چی داکاربه دخلکو په روحیه باندی ښه اغیزه وکړی .

دډاکتر محمد امین فرهنګ په عقیده که چیری افغانان یوی واحدی نظریی ته ونه رسیږی نه یوازی داچی اقتصادی ستونزی نه اواریږی بلکی افغانستان به دسیاسی لحاظه تجزیه شي نویو ځل بیا ټولو پوهو شخصیتونو ، جهادی تنظیمونو اوقوماندانانو ته دا غږ رسوم چی پخپلو منځو کی سره کینی اودخبرو له لاری دافغانستان دسیاسی او اقتصادی ستونزو دحل لاره ولټوی.

دخان آباد ولسوالی دنیولو لپاره دمزدور رژیم حملی ناکامی شوی

کندز ، میډیا :
میډیا دکندز دجهادی منابعو په حواله رپوټ ورکړی چی ددی ولایت مجاهدینو دمزدور رژیم هغه بریدونه چی دخان اباد ولسوالی دبیرته نیولو لپاره ترسره کړی ، له ماتی سره مخاخ کړی دی .

رپوټونه وایی مجاهدینود جوزا په ۲۷ مه نیټه ددی ولایت دوه کلی دکچلی او «اور تبلاقی» په نامه دکمونستانو له منګولو څخه ازاد کړی دی اودرژیم قواو ته یی درانه تلفات وراړولی دي .

دبل رپوټ له مخی دکندز ولایت مجاهدینو دمزدور رژیم هغه دوی حملی چی دجوزا په ۱۹ مه او دسرطان

په ٥ مه نیټه یی دخان اباد ولسوالی دبیرته نیولو لپاره ترسره کړی له ماتی سره مخامخ کړی اودمزدور رژیم قواوو ددرنو ځانی او مالی تلفاتو په منلو سره په شاتګ وکړ.

همدارنګه دکندز ولایت زړورو مجاهدینود سرطان دمیاشتی په ٥ مه شپه ددی ولایت دجرګز په سیمه کی درژیم پرپوستو برید وکړ ، یوه پوسته یی فتح اودښمن ته یی درانه تلفات ورواړول .

درژیم دقواو هغه ټانکونو چی دهوایی دګر له لوری یی پر مجاهدینو دبرید قصد درلود ، دده کلان اوشاخ تپه په سیمو کی دمجاهدینو پرځای پرځای شویو ماینونو وختل دوه ټانکونه یی له منځه لاړل .

دکندز له ولایت څخه دقوماندان احمد شاه مسعود دسرطان دمیاشتی داتمی نیټی دمخابروی پیغام په اساس میډیا رپوټ ورکړی چی دمزدور رژیم دقواوو اومجاهدینو ترمنځ دخان اباد ولسوالی په شاوخوا کی جګړه روانه ده ، اوتراوسه درژیم له قواو څخه دسلو کسانو په شاوخوا کی عسکراوصاحب منصبان وژل شوی چی دتلفاتودقیق شمیر تراوسه ندی معلوم .

درخواست های صاحب منصبان رژیم مزدور کابل برای تقاعد

کابل ، میدیا :
اطلاعات رسیده ازافغانستان حاکیست ، سلسله تقاضای صاحب منصبان برای برکناری از وظیفه عسکری و اخذ تقاعد که از چند سال است ، ادامه دارد اخیرا شدت گرفته است .
اطلاع می افزاید تاکنون عده زیادی از صاحب منصبان به بهانه های گوناگون بخصوص بنام مریضی توانسته اند تقاعد شان رااخذ نمایند .
گفته می شود بسیاری از صاحب منصبان به مقامات مسوول درین زمینه مبالغ گزاف رشوه می پردازند تارژیم که درحال حاضربه صاحب منصبان اشد ضرورت دارد به تقاعد انان رضایت دهد ، حتی اطلاعات دادن صد ها هزار افغانی رشوه در مورد بدست رسیده است .
هم چنین بسیاری از صاحب منصبان بدستور روسای مسوول به عناوین مختلف داخل بستر شفاخانه شده وبا تطمیع دوکتوران تصادیق لازم دریافت وپس ازتپ وتلاش های زیاد تقاعد شان را میگیرند .
شایع است که صاحب منصبان متقاعد بارشوه ، که رژیم رادرحال تزلزل وسقوط می بینند ، از هراس اینده ازمحاکمه مجاهدین دست به این کار زده واکثرا همردیفان شانرا در زمینه رهنمایی میکنند .
اطلاع حاکیست عده از ین صاحب منصبان که با راه ورسم تقاعد ازطریق رشوه بلدیت کافی حاصل کرده اند خود منحیث رابط میان راشی ومرتشی کارنموده وصد ها هزار افغانی پول دریافت داشته اند .

درشید دوستم دویم مرستیال په غزني کې دمجاهدینو په یو تعرضي برید کې ووژل شو

غزنی ، میډیا :
دغزنی ولایت څخه دیو راډیویی پیغام په حواله ویل شویدی چی مجاهدینودجوزا دمیاشتی په ۲۳مه نیټه دغزنی ښارپه کمربندی پوستو باندی دیو تعرضی بریدپه ترڅ کی درژیم دملیشه قوماندان اودرشید دوستم دوهم مرستیال نجیب الله د۲٤ تنه نورو ملیشه و او دملیشه دیوبل قوماندان په ګډون وژلی اوڅلویښت تنه نور یی ټپیان کړیدی .
خبر ځای وایی چی مجاهدینو دجوزا دمیاشتی په ۲٤ نیټه په یو بل برید کی په نوموړو پوستو باندی درژیم ۲ عرادی نظامی موټر دبی ایم ۱۲ په ډزو دسپرلیو سره داور لمبه کړی او یو شمیر نظامی مهمات یی په ولجه نیولی دی .
درپوټ مطابق درژیم دهوایی بمبارۍ اودرندو توپونو په ډزو سره ٦ تنه مجاهدین او ٦ تنه دسیمی ماشومان اوښځی ټپیان او داوسیدو یو شمیر کورونه ړنګ شوی دی .

«انصاف» چیرته ، او ...

په کابل کی دروس دمزدور اولاس پوڅی رژیم له په قدرت رسیدو او په تیره بیا دروسی عسکرو له مستقیم نظامی یرغل څخه وروسته بیا تر ننه دکابل دمزدور رژیم زندانونه زموږ له زرهاوو بی ګناه اوبی وزلو هیوادوالو څخه ډک شول ، زموږ دهیواد بی شمیره ځوانان ، سپین ږیری علما قومی مشران ، ولسی خلك حتی ښځی اونجونی دکابل اوولایاتو په تورو سیاچالونو کی واچول شول ، پداسی وحشیانه اوغیر انسانی توګه تر شکنجی لاندی ونیول شول چی دبشری نړی دترټولو وحشی اوغیر انسانی شکنجو څخه هم وحشی او ظالمانه و .

دثور دکرغیړنی کودتا څخه وروسته یوازی دمزدورتره کی او جنایتکارامین دغیر قانونی اوپر ولس باندی تحمیل شوی اقتدار په توره دوره کی زموږ تقریبا (٤۰۰۰) کسه بی ګناه هیواد وال دکمونستی وحشت په تورو کندو کی داسی ورك شول چی تر ننه یی کورنیو نه دهغوی دژوند اطمینان ترلاسه کړ اونه دمرګ .

ددی ټولو وحشتونو اوجنایاتو عامل څوك دی ؟ معلومه خبره ده ، دسره نړی خورښکیلاك وحشی سردمداران ، ترغاښونو پوری مسلح دهغوی یرغلګر پوځ اودکابل دتاج او تخت څوتنه بی پته او مزدور مدعیان (چی ګومان کوم هغوی ته دافغانانو خطاب کول ، افغانیت ته تو هین دی) ،اوداڅو تنه روسی عسکر چی نن دمجاهدینو په اسارت کی ژوند تیروی ددغه یرغلګر اووحشی پوځ یو جز ؤ چی زموږ په هیواد کی یی دومره فاجعی زیږولی .

نن دغه ښاغلی چی ددغو بندی عسکرو سره د«انصاف» غوښتنه کوی هغه وخت ولی چُپ ناست و ، کله چی دروسانو عسکرو دځنګلی ځناورو په شان زموږ دمظلوم ملت پر بدن کی خپلی خونړی داړی خښنی کړی وی ؟

هلته چی مزدور رژیم دروسی مشاورینو ترمستقیمی قوماندی لاندی په یوه شپه کی په سل هاوو زندانیان دپلچرخی دجهنمی جیل څخه را ایستل او دڅاروو په شان یی قصابی کول ، دغه ښاغلی "منصفین" چیرته ؤ ، او ولی یی "دانصاف" غوښتنه نه کوله ؟

نن چی له مجاهدینو سره دیو محدود شمیر روسی عسکرو دخوشی کولولپاره اودخپلو «کورنیو غیږو ته »! دهغوی دبیرته ستنولو لپاره کومی هلی ځلی کیږی ایا داهم دچاپه یاد دی چی ددی عساکرو دزور زیاتی او قتل عام له لاسه زموږ دهیواد دتقریبا ٦۰۰۰۰ مینڼو زړوونه داغداره دی ، اودهغوی دژوند یوازینی امیدونه (دهغوی تنکی ځوانان) دروسانو دزور زیاتی اووحشت قربانی شوی دی ؟

دادکوم ځای او څرنګه «انصاف» دی ؟ ددی مظلوم ولس ګناه څه وه ؟

چی باید په دومره بی رحمی ورسره برخورد شوی وای . له مجاهدینوسره دبندی محدود شمیر روسی عسکرو دخوشی کولو مسئله دروس دواکمن ځواك او افغانی مجاهدینو ترمنځ معامله ده چی کیدای شی دهغوی ترمنځ حل او فصل شی ، ددی مسئلی دومره لویول اودهغی په اړه د«انصاف »غوښتل ، هغه هم دداسی لوریو له خوا چی پدی موضوع کی په هیڅ ډول مطرح ندی ، نشی کولای داموضوع حل کړی !

دمجاهدینو سره قیدی عسکر چی دروسانو دادعا مطابق څه دپاسه ۳۰۰۰ کسه دی (پداسی حال کی چی مجاهدینو دغه شمیر ندی منلی) ، او دهغوی خوشی کول یا قیدی ساتل دومره غټه موضوع نده چی هر ښاغلی ولو که په موضوع کی مطرح وی اوکه نه ، دهغی په هکله زهرجن تبلیغات وکړی ، اومجاهدینو ته سپکی سپوری ووایی . داافغان مجاهد ولس کاردی چی دهغوی په هکله څه ډول تصمیم نیسی ، اوڅه کوی او هلته چی زموږ باتور مجاهدین تصمیم نیسی ، بیا ددی ډول کسانو خبری خونه څوك اوری اونه هغی ته اهمیت ورکوی !

په افغانستان کې دکي ، جي ، بي ...

په خوښه صورت ونیوه ځکه چې روسانو له دې ویره درلوده چې کارمل اودروسانو لپاره دپرچمیانو نور مهم غړي به دخلقیانو خصوصاً امین په واسطه په پټه ووژل شي دروسانو دغې پیشبینی تریوه حده پورې حقیقی بڼه هم درلوده (تره کی دروسانو سره په تفاهم کې پرچمیان پخپل څنګ کې منل خو امین چې په نظامي ساحه کې یې ترټولو زیات قدرت په لاس کې نیولی ؤ دي کارته غاړه نه ایښوده) ځکه چې کله د۱۳٥۷ هـ ش کال په نیمایي کې دپرچمیانو یوشمیرغړې دسفیرانو په توګه بهرته ولیږل شول دنورو پرچمیانو بندي کیدل اوله منځه وړل دروسانو ترنظامي مداخلې پورې دوام وکړ خوددوی وژل یې دپرچمیانو په نوم نه بلکې داخوان المسلمین پ نوم عملي کول نوکه چیرې دپرچمیانو هغه غړي چې دروسانو لپاره نسبتاً زیات مهم وو

داافغانستان په داخل کې پاتې شوې وای کیدای شول چې په کومه طریقه سره یې له منځه وړې وای .
دسفیرانو په توګه دیو شمیر پرچمیانو دتللو څخه وروسته کی ، جی ، بی په افغانستان کې پاتې شویو پرچمیانو ته دستور ورکړ چې خپل روابط اوتشکیلات په سري اوپټه توګه ټینګ اوجلب اوجذب پیل کړي اوټولو پرچمیانو اودپرچمیانو طرفدارانو ته داابلاغ کړی چې امین دګوند په داخل کې کودتا وکړه اوټول ګوندي اودولتي قدرت یې دنظامیانو په زور پخپل لاس کې نیولی دی نوباید چې راوپرڅول شي پرچمیانو دي کارته دوام ورکړ اود۱۳٥۷ هـ ش کال په نیمایې کې پرچمیانو دکی ، جی ، بی په دستور کودتا ته اقدام وکړاما ناکام شول .
سلطان علي کشتمند چې په هغه وخت کې دپلان وزیر ؤ اوعبدالقادر چې په هغه

وخت کې ددفاع وزیر ؤ (عبدالقادر اصلاً دخلقیانو له ډلې څخه ؤ خو روسانو نوموړي ته دستور ورکړچې دپرچمیانو سره یو ځای کودتا ته اقدام وکړي) اویو زیات شمیر نور پرچمیان یې بندیان کړل دپرچمیانو په واسطه له کودتا څخه دکی ، جی ، بی هدف داؤ چې اصلی قدرت پرچمیانو ته وسپاري اوخلقیانو ته دوهمه درجه ګوندي اودولتي مقامونه ورکړي اویو شمیر هغه خلقیان لکه امین اوطرفداران یې اوهغوی چې دروسانو عام او تامه قومانده نه مني له منځه یوسي اویاداچې له قدرت څخه یې وغورځوي .
وروسته له دې دپرچمیانو بندي کیدل اووژنه ګړندی شوه خو روسانو په ټولو امکاناتو سره دپرچمیانو له وژل کیدو څخه مخ نیوي ته اقدام وکړ روسانو تره کی ، امین او دخلقیانو نورو مقامونوته په ډاګه کړه چې

که چیرې دپرچمیانو وژل دوام وکړي روسان یې دخلقیانو اوځان لپاره په زیان بولي .
امین هم په علني ډول سره ددې مطلب مخالفت ونکړ روسانو پرچمیانو ته خبر ورکړ چې کله موږ خلقیان ونیسي اوبندیان شی نوپه تحقیق کې به ورته لیکی چې زه پرچمی یم نوبیا به موږ مونډي کړي خوورژلی مونشي له دې خبر وروسته پرچمیانو همداسې کول اوچې بندیان به شول په تحقیق کې به یې ورته لیکل چې موږ پرچمیان یعنې دببرك ډله یو خوبیایې هم یو شمیر پرچمیان له تیغه تیرکړل اوکله به چې خلقیانو روسانو ته دپرچمیانو دقتل دوسیې ورښودلې نو به یې داجرم پکې لیکلی ؤ چې داداسلامي تحریك غړي وو په دې صورت کې به خلقیان دروسانو له مخالفت اوتهدید څخه خوندي وو.

نوربیا

تلاش دیگری برای...

میتواند شیوه های بازسازی گرباچف رادرسیاست پیاده نماید، باین شکل نجیب رامطمئن ساخته بودند که بحیث یگانه مهره موفق صحنه سیاست کابل مورد توجه مسکو است ونجیب نیز توانست برهنمایی روسها درارتباطه به موضوع افغانستان حرفهای ضد ونقیض راارائه دهد که واضحاً گویای دیکته سیاسی ازجانب مسکو بود . نجیب طی پنج یاشش سال گذشته خواست با غوغاوهیاهوی زیاد وبادام مصالحه ملی مجاهدین ومهاجرین را بفریبد روسها نیز طی همین مدت بخصوص بعد از فرار قوای شان بسیار تلاش می ورزیدند تاگویا باایجاد فضای جدید موجب پیروزی های کاذب برای رژیم دست نشانده خود شوند به همین منظور به ارزش ملیارد ها دالر سلاح ومهمات وکمکهای اقتصادی رابه اختیار رژیم کابل گذاشتند که همه ان توسط عمال رژیم وحزب خلق به چپاول برده شد .

روسها درفرجام پنج سال باین نتیجه رسیدند که نجیب نیز نتوانست با وجود تجاربش بحیث رئیس خاد رژیم وکمکهای اقتصادی روس سیاست مداخله گرانه ومکارانه روس درافغانستان رابه پیروزی برساند لذا اکنون درپی راه وچاره دست نشانده دیگری شدند .

اشخاص عودت داده شده بازهم همان اشخاص بدنام تاریخ افغانستان هستند که هیچ فرد افغانها نه بر آنها حساب می نماید ونه بر انها اعتماد دارد اینها همه پرورده ایجنت های سیاهروی «کی ، جی ، بی »هستند که سر شانرا گاه از یخن وگاه از استین می کشند اما مردم ما بهر رنگی که انها خود نمایی کنند باچهره ناپاك انها اشنایی کامل دارند .

ناظرین سیاسی باتوجه به ازدیاد کشمکشها میان افراد بلندرتبه حزب خلق پرچم بعد از عودت افراد فراری حزب کمونست ازیکطرف وملاقات هابا افراد محبوس حزب خلق جهت کشانیدن وجلب نظرآنها ازطرف دیگر نزدیکی یك تحول رادردستگاه رژیم کابل طبق میل روسها پیشگویی میکنند روسها اینبار بازهم میخواهند با ایجاد تفرقه میان نوکران حلقه بگوش خود وصحنه سازی نوکر دیگری رابکرسی نشانند تابتوانند برمرحله دیگری ازمداخلات بیشرمانه خود سرپوش گذارند.

حرف برینست که حکومت دست نشانده روسها درکابل تحت رهبری نجیب سلب اعتماد شده گمان اینست که اکنون روسها می خواهند مهره دیگر خود را که باخدمت گزاری به روسها اعتماد آنها را کسب نموده باشد برکرسی رژیم نشانند .

این اشخاص بشمول نجیب ، ببرك کارمل وسایر همردیفان حزبی شان همانطوریکه نتوانستند هیچگاه هم نخواهند توانست در استانبوسی روسها وطن مارا بفروش گذارند .

واضح است که روسها روی اهداف اشغالگری در افغانستان به کشور ما هجوم اوردند ودرشعاع این اشغالگری است که نوکران روس یکی بعد دیگری بقدرت رسیدند که هرکدام انها بشمول کانون حزبی شان در تمام خیانت ها واعمال خیانت امیز علیه مردم وطن ماشریك اند .

بهرحال اکنون این اوازه قوت گرفته است که روسها میخواهند رژیم کابل را تغیر دهند ودرپرتو این افواهات اختلاف میان خلقی ها وپرچمی ها ازیکطرف وجناحهای متضاد پرچمی وخلقی ازطرف دیگربه اوج خود رسیده است .

همانطوریکه رسانه های گروهی اطلاع داده اند دراثر همین اختلافات اداره رژیم عملاً ضعیف گردیده ودراستانه سقوط قرار گرفته است .

روس ها باید باتوجه به شکست نظامی شان در افغانستان بیش ازین درپی اهداف بیشرمانه مداخلانه گرانه نباشند اگر روسها میخواهند دراینده باکشور همسایه جنوبی خود روابط سیاسی داشته باشد باید بیش ازین دست ازمداخله گری بردارند ، ایجنت هاوجاسوسان شان هیچگاه نمیتوانند وطن مارادرخدمت روسها گذارند .

جنگ جاری خود نشاندهنده این حقیقت است که مردم مسلمان ماروس و نوکران آنرا نمیخواهند وازخاطر همین نخواستن است که ملت مجاهد افغان علاوه بریك ونیم ملیون شهید به ارزش هزار ها ملیارد دالر زیان مالی رانیز متقبل شده اند .

لذاکمونست ها ورژیم کمونست کابل نماینده مردم افغانستان نبوده وروسها نیز که کمونست ها رادرکابل برکرسی نگهداشته اند حق مداخله درامور کشورما را ندارند هرجاسوس روس که در کابل بکمك روس بقدرت رسد برای مردم مسلمان افغانستان قابل قبول نبوده وکاملا مردود ومنتفی میباشد.

نصب دستگاه های «سکد»و «لونا »درپل علم وگردیز

کابل ، میدیا :

رژیم کابل دودستگاه فیر سکد رادرپل علم مرکز ولایت لوگر ودودستگاه فیر راکت لونارابه گردیز مرکز ولایت پکتیا انتقال ونصب کرده است

خبرنگار اعزامی میدیا به نقل از منابع اگاه نظامی ازکابل گزارش داده است دستگاه های مذکور بمنظور تهدید لوی ولسوالی خوست وپاکستان انتقال داده شده است .

طبق راپور از دستگاه های نصب شده درپل علم وگردیز یکی ان مربوط اردو ویکی دیگر ان در اختیار گارد خاص وخاد می باشد که هرکدام ازحامیان عمده تر رژیم محسوب میشود .

همچنان دستگاه های فیر راکت اوراگان قبلاً به پل علم مرکز ولایت لوگر انتقال ونصب شده بود .

بقول خبرنگار میدیا درحال حاضردرشهرکابل چهاردستگاه فیر سکد در دارالامان که دوی ان مربوط اردو ودوی دیگران به گارد خاص وسازمان خاد تعلق دارد فعالیت مینماید .

دبلخ په ولایت کی دمجاهدینو له خوا ٤۰ تنه ملیشه ژوندی نیول شوی

بلخ ، میډیا:

مجاهدینو دبلخ ولایت په چهاربولك ولسوالی کی درژیم پریو اکمالاتی قطار باندی په یو تعرضی برید کی دکابل رژیم ٤۰ تنه ملیشه ژوندی نیولی او ۸ عرادی په مهماتو بار وسایط یی ولجه کړی دی.

دبلخ ولایت څخه میډیا ته رپوټ ورکړشوی چی مجاهدینو دجوزا په ۲۷ نیټه درژیم په یو اکمالاتی قطار باندی چی دبلخ ولایت مرکز مزار شریف ښارنه دجوزجان ولایت ته روان وو دچاربولك په ولسوالی کی په کړه یو تعرضی برید وکړ چی پکی دقطار ٤۰ تنه ملیشه دوسلو سره ژوندی نیول شوی دی .

رپوټ وایی مجاهدینو په دغه برید کی درژیم دقواو څخه ۸ عرادی په مهماتو بار نظامی لاری هم په ولجه نیولی دی اویو شمیر ملیشه یی وژلی اویاټپیان کړی دی .

درپوټ مطابق په دغه برید کی دمجاهدینو څخه هم یو تن شهید شویدی .

دخوست په ښار درژیم وحشیانه بمباری

پکتیا ، دجهاد هنداری خبریال :

دهغه مخابروی رپوټ له مخی چی دسرطان دمیاشتی په ۹ مه نیټه دپکتیا ولایت دالحاج مولوی جلال الدین حقانی دجبهاتو له قوماندانی څخه رارسیدلی ویل شوی دمزدور رژیم هوایی قواو دتیری یوی اونی څخه راپدی خواد خوست پر آزاد شوی ښار باندی خپل وحشیانه بمبارته دوام ورکړی .

رپوټ زیاته کړی ددی بمباردمان په نتیجه کی تراوسه پوری دوه کسه ولسی خلك شهیدان شوی او ۲۰ کسه نورټپیان شوی ، همداراز دکلیوالو دسورلی یو موټر هم تخریب شوی .

رپوټ وایی چی ددی بمباری له امله دسنگر مجاهدینوته کوم زیان نه دی رسیدلی .

دکندهار دښار دخاد په دفتر کی چاودنه

دکندهار ولایت دمجاهدینو دراډیویی پیغام په حواله میډیا ته رپوټ ورکړشوی ، چی دکندهار مجاهدینو دارتباطی وسیلو پواسطه دجوزا په ۲۷مه نیټه د کابل رژیم دکندهار ښارپه پنځم نمبر دخاد مدیریت کی چی د ښاروالی په ساحه کی موقعیت لری دیو مین دځای پرځای کولو په اثر دیو جیپ موټر څلور تنه دخاد لوړ رتبه صاحب منصبان له منځه وړی دی .

خبر زیاتوی چی ددغه طاقتور مین دچاودیدلو په اثر جیپ موټر الوتی اودمنصبدارانو څخه علاوه دری تنه محافظ سربازانو ددفتر څخه دحرکت په وخت کی خپل ژوند له لاسه ورکړی اوپه کمونستی قواو کی ویره ترهه خپره شوی ده .

اجساد (۲۵۰) تن ازملیشه های رژیم ملحد کابل از دریا کشیده شده است

نمایندگی حوزه جنوب غرب به نقل از پیغام رادیویی ازولسوالی زنده جان در غرب هرات خبر داده است ، اجساد ۳۵۰ تن از ملیشه های رژیم ملحد کابل درمنطقه پشتون ولسوالی غوریان از اب کشیده شدند .

طبق راپور گفته میشود که ملیشه های مذکور درجریان برخورد بامجاهدین بقتل رسیده ورژیم بخاطر جلوگیری از تضعیف روحیه قوا ی مهاجم اجساداتان رابدریای هریرود انداخته بود ، وادعا نموده اند که انان حین بستن اب دریابرولسوالی غوریان بدریای هریرود افتیده بودند .

خبر می افزاید درجریان این حادثه ۱۰ نفر از افراد رژیم رادرکناردریای هریرود مار گزیده وجان داده اند .

همچنان بر اثر فیر اشتباهی راکت میان افراد رژیم ٤ تن از ملیشه ها بقتل رسیده اند .

قرار راپور قوای مهاجم ملحدین هم اکنون درحال فرار دربسیاری جبهات در ولسوالی های غوریان وزنده جان می باشند برخورد میان مجاهدین وقوای رژیم مزدور همچنان ادامه دارد .

دهیئت تحریر ترنظر لاندی
مکاتباتي پته
پوست بکس (۱۰۳۳)
یونیورستي تاون پیښور
تیلفون : ... ۸۱۲۲۵۱

ولسوالی خواجه غار مجدداً بدست مجاهدین افتاد

تخار، میدیا :

به اساس پیام قوماندان احمد شاه مسعود رئیس شورای نظار جمعیت اسلامی طی حمله مشترك ٥ ساعته مجاهدین که ساعت ۱۲ شب جمعه ۳۱ جوزا اغاز شدولسوالی خواجه غار مرکز ولایت تخار مجددا بتصرف مجاهدین در امد .

طبق راپور قوای دشمن ولسوالی راتخلیه وبه دشت قلعه عقب نشینی کرده اند .

راپور می افزاید قوای مذکور تلاش نمود تا از دشت قلعه عملیات تازه برولسوالی خواجه غار انجام دهد وهم زمان از کندز برولسوالی خان اباد ، عملیات انجام دهد که بابجا گذاشتن ۲۰۰ کشته این حملات رژیم نیز ناکام گردید و ٥ تانك ومقدار قابل ملاحظه سلاح ومهمات به غنیمت گرفته شده است .

راپور می گوید : قوای دشمن درحال حاضر تحت قوماندہ جنرال بیگی دردشت قلعه وبرهبری جنرال رفیع ورشید دوستم درمرکز ولایت کندز درفاصله یك کیلو متربا مجاهدین قرار دارند .

درراپور گفته شده که بمباران شدید هوایی برولسوالی های خواجه غار وخان اباد ادامه دارد که تاکنون منجر به کشته شدن عده از اهالی ، تخریب منازل مسکونی وبه اتش کشیدن خرمن های گندم گردیده است .

هندی پولیسو ۱۵ تنه کشمیری مسلمانان شهیدان کړل

سری نگر ، دسرطان ۸ مه :

په نیول شوی کشمیر کی تیره ورځ هندی یرغلگرو پوځونو ۱۵ تنه بی گناه کشمیریان په شهادت ورسول .

ویل کیږی دغه کشمیریانودهندی تیری کوونکو دزور زیاتی له امله پاکستان ته پناه راوړل غوښتل بل لوری ته کشمیری ازادی غوښتونکو مجاهدینو هم دهندی پوځیانو پر ضد خپلی هلی ځلی زیاتی کړی دی ، اودکورونو دپلټولو په دوران کی یی ۹ تنه هندی پوځیان وژلی او ٤ تنه نور یی ټپیان کړی دی .

دغه کورپه کور پلټنی هغه وخت پیل شوی چی کشمیری ازادی غوښتونکو یو تن اسرائیلی جاسوس له سرینگر څخه دیرغمل په توگه وتښتولو .

کابل ولایت دپغمان په ولسوالی کی د مجاهدینو عملیات

کابل میډیا :

دپغمان له ولسوالی نه دمجاهدینو درادیویی پیغام په حواله ویل شوی دی چی مجاهدینو دجوزا په ۲۷ نیټه دکابل رژیم پر هغه قطار باندی چی شمیر یی ۱٤۰ عرادو ټانکونو او پوځی لاریو ته رسیده ، اودکابل نه دمیدان په لوری دنورو ځای پرځای شووقواو داکمال په غرض دحرکت په حال کی وُ دچوکی ارغندی په سیمه کی برید وکړ چی دهغی په نتیجه کی دملحد رژیم دوه ټانکونه او اوه لاری داور لمبه شوی او زیات شمیر درژیم پلویان له منځه وړل شویدی .

رپوټ زیاتوی چی مجاهدینو پدی جگړه کی درژیم له قواو نه په میدان ښار کی دده افغانانو په سیمه کی ۸٦ تنه وسله وال دگلیم جمع ملیشه ژوندی نیولی دی .

دغه راز مجاهدینو دقوماندان مشتاق احمد په مشری دجوزا په ۲۸ نیټه په دغه ولسوالی کی دحضرت سلطان پر پوستو باندی ددرندو وسلو بزی وکړی چی دهغی په اثر درژیم ۸ تنه پلویان مړه او یو شمیر نوریی ټپیان شویدی .

دخبر مطابق پدی جگړه کی دمجاهدینو څخه دوه تنه ټپیان شویدی .

زلزله طوفان باد وسرازیر شدن سیلابها ولسوالی کشم بدخشان راشدیداً خسارمند ساخته است

طبق پیغام رادیویی از حوزه تشکان ولسوالی کشم بدخشان تکان های شدید زلزله همزمان با طوفان باد وسراز یر شدن سیلابها دربدخشان بتاریخ ۲۸ جوزا ولسوالی کشم این ولایت رادرهم وبرهم کرده است .

راپور افزوده است به اثر این حوادث که همزمان رخ داده است قراتشکان تگاب ، غوری سنگ ، تگاب ، ده استایان ، سسکان و پاسساز باخاك یکسان شده است .

گفته میشود (۱۵) نفر از اهالی محلات مذکور از اثر این حوادث کشته وعده زیادی مفقود الاثر گردیده اند .